# روح القدس ستاسو
# دوست او مرستندوی

GLOBAL UNIVERSITY

# روح القدس ستاسو دوست او مرستندوی

ليکونکی
ال جيتر واکر

***Global University***
***P.O.Box 5749***
***Nicosia, Cyprus***

# روح القدس ستاسو دوست او مرستندی

لومړی چاپ ۲۰۰۷

© 2007 All Rights Reserved

***Pashto "Your Helpful Friend" 2007***

***Global University***
***P.O. Box 5749***
***Nicosia, Cyprus***

# لوستونکوسره یوڅوخبرې

ښايي تراوسه پورې د هغو مطالبو په پاملرنې سره چې دکتاب ترشا ليکل شويدي، د دې دورې د مطالعې په علتونو او عواملو باندې پوه شوي ياست. آيا دا دلايل کولای شي تاسو ته هم شامل شي؟ که چيرې همداسې وي نوتاسې به هم د نورو ډيرو خويندو او ورونو په څير د روح القدس څخه ډک او ډکه شئ او دا پاک او سپيڅلی روح به ستاسو ملګری او مرستندوی شي.

د مقدس کتاب د مضامينو په رڼا کښې پوهيږئ چې دغه دوست ستاسو لپاره څه کارونه سرته رسولی شي. دټولو څخه لوړ هدف چې په دې لوست کښې نغښتی دی دا دی چې خپل خدای په ښه توګه وپيژنئ، ترڅو د هغه د اهدافو په عملي کولو سره وکولی شئ چې د خدای خدمت په ډېره ښه توګه ترسره کړئ.

که چيرې متوجه شوئ چې د مقدس کتاب هغه آيتونه چې په دې درس کښې ذکر شوي دي په بشپړه توګه ستاسو د مقدس کتاب د آيتونو په څير نه دي. د دې اساسي عامل دا دی چې د مقدس کتاب بېلابېلې ترجمې موجودې دي چې د يو بل سره په الفاظو کښې توپير لري (مګر د ټولو مفهوم يو دی). مونږ پدې کتاب کښې دآيتونو د بيان لپاره د فارسي ژبې د زړې او کلاسيکې ترجمې څخه استفاده کړېده. خو کله نا کله د

فارسي تفسيري ترجمې څخه هم استفاده شوې ده.(مګر هغه حوالې چې له نوې لوظنامې سره تړاو لري د پښتو د ژبې د "انجيل شريف يعني د مالک عيسی مسيح زيری" له کتاب څخه کلمه په کلمه نقل شوي دي. پښتو مترجم)

د هر آيت سره د ترجمې نوم، فصل او د آيت ځای او شمارې ذکر هم راغلی دی. چې له دې لارې څخه په ډېره آسانۍ سره کولای شئ په خپل مقدس کتاب کښې نومړي آيت ته مراجعه وکړئ. په ځينو ځايونو کښې آيتونه په پوره توګه نه دي ذکر شوي بلکه د هغو يوه برخه چې له موضوع سره تړاو لري ذکر شوې ده.

دغه کتاب (روح القدس ستاسو دوست او مرستندوی) يو کوچنی او جيبي کتاب دی چې تاسو کولای شئ هر چېرې هغه له ځانه سره ولېږدوئ او په وزګار وخت کښې يې مطالعه کړئ. هڅه وکړئ چې هر ورځ خپل يو څه وخت د دې کتاب دلوستلو لپاره وقف کړئ.

هڅه شوې ده چې د دې کتاب درسي مطالب د نوي ښوونيزو ميتودونو څخه پکار اخيستلو سره لوستونکو ته وړاندې شي. مونږ باور لرو چې دا کتاب به تاسو ته په زړه پورې او د استفادې وړ وي.

دهر درس په پيل کښې هغه سرټکي په مختصره توګه ذکر شويدي چې دلوست په اوږدو کښې څېړل کيږي. دغه سرټکي په غور سره ولولئ، ترڅو ستاسو ذهنونه په لوست کښې د

شاملو مطالبو دلوستلو لپاره چمتو کړي. وروسته د«ژورې کتنې» برخه تر لوستنې لاندې ونیسئ. هڅه وکړئ هغه مطالب او حقایق چې تاسوته بیانیږي په خپل ورځینې ژوند کښې ورڅخه کار واخلئ. بیا د لوست هره برخه په پرله پسې توګه ولولئ. او د «هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ» برخې د لارښونو سره سم ورباندې کار وکړئ.

## ستاسو د زده کړې راپور

که چیرې د دې کتاب د مطالعې څخه ستاسو مقصد د شهادتنامې ترلاسه کول وي نو د دې کتاب ترڅنګ یوه کوچنۍ کتابچه، د سوالونو د کتابچې په توګه تاسو ته درکول کیږي چې په دوو برخو ویشل شوېده. کله چې تاسو دا کتاب لولئ نو په خپله به پوه شئ چې کله دغو سوالونو ته ځوابونه ورکړئ.

کله چې تاسو د دې کتابچې د سوالونو ځوابونه بشپړ کړل کولای شئ چې هغه په هغه ادرس چې د کتابچې په پای کښې لیکل شوی دی د (I.C.I)دفتر ته ولیږئ او که چیرې دا کار تاسو ته سخت او یا ناممکن وي تاسو کولای شئ چې خپل ځوابونه خپل ښوونکي ته وسپارئ. تاسو به د خپلو ځوابونو او د کتاب د بریالي ختمولو په خاطر یوه شهادتنامه هم تر لاسه کړئ. که تاسو غوښتي وي چې خپلو لوستنو ته دوام ورکړئ نو ددې سلسلې نور کتابونه هم موجود دي او تاسو کولای شئ هغه د خپلو ښوونکو له لارې ترلاسه کړئ. ستاسو د لانورو بریالیتوبونو په هیله.

لومړی لوست

# تاسو یو ملګری لرئ- یعنی روح القدس

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ هغه یو خاص ملګری دی
- ❖ هغه به تاسو سره مرسته وکړي
- ❖ هغه به تاسو ته تعلیم درکړي
- ❖ هغه به تاسوته خدای په حقیقی بڼه دروپېژني
- ❖ هغه به ستاسو ژوند دمینې څخه ډک کړي

## ژوره کتنه

نن ورځ خلک د نورو زمانو د خلکو په پرتله دهر څه څخه زیات د روح القدس او د هغه د کار په هکله خبرې کوي. هغوی دې حقیقت ته رسیدلي دي چې روح القدس فقط او فقط یوه اغېزه (اثر) نه ده بلکه یو شخصیت دی. روح القدس یوداسې عامل او کار کوونکی دی چې د پروتسانت او کاتو لیک په شمول یې زرګونو کلیساګانو ته خپله دوستي او همیشنی

ژوندون ډالۍ کړیدی. او نن ورځ د نړۍ په میلیونونو خلک د هغه مقصد په معنی باندې پوه شوي دي کوم چې لومړنیو مسیحیانو د ((د روح څخه ډک شئ)) په نامه پېژانده.

د (The Pentecostal. Evangel) د مجلې پخوانی سرمحرر (رابرت. سی. کانینګهام) په دې هکله لیکي: "یو د هغو سرودونو څخه چې په ډیر شوق سره یې وایو د (روح څخه ډک شئ) سرود دی. د روح څخه د ډکیدو مقصد څه دی؟ کله چې وایو د فلاني ټول بدن د ویرې، کینې او یا غصې څخه ډک شویدی نوبنه یوهیږو چې د دې وینا څخه مقصد څه دی. نو د دې مفاهیمو د بیان څخه مقصد دادی چې د یو نفر ټول وجود او د هغه ټوله ذهني قوه او طاقت ددې طوفاني احساساتو په وسیله نیول شوی دی. زمونږ مقصد دادی چې دغه پیاوړې قواوې هغه ته دداسې کارونو د سرته رسولو وړتیا وربخښي چې دا ټول د هغه روح ننښه ده چې د هغه په شخصي ژوند باندې حکم چلوي.

د پنطیکاست د ورځې لویې هم همدلته څرګندېږي. روح القدس له آسمان څخه د ښخو او نارینوو پر جسم او ژوند باندې دومره نازلېږي چې هغوی د هغه د شته والي څخه ډکېږي. د خدای روح هر استعداد تابع کوي او هر طاقت کنترولوي او د انسان هره وړتیا د خپلې ارادې په مطابق کارولی شي. خدای په ناڅاپي توګه نازل شي او خپل هیکل (عبادتخانه) ډکه کړي او دا د خاورو څخه جوړ شوی بشر د خدای هیکل وګرځوي.

په دې اړه لږ څه فکر وکړئ. کېدای شي چې د روح څخه د ډ کېدلو برکت تاسو هم ترلاسه کړئ.

## هغه یو خاص ملګری دی

یو سړي د یو ستر شخص څخه د هغه د کامیابۍ د راز پوښتنه وکړه. د هغه نفر جواب دا ؤ: "ما یو ملګری درلود". هغه غوښتل چې هر سړی په دې پوه شي چې هغه د خپل ملګري د مرستې څخه پرته نشول کولای چې دا ټولې بریاوې ترلاسه کړي. او کېدای شي چې د هغه ژوند د خپل ملګري د مرستې څخه بغیر له ماتې سره مخامخ شوی وای. د هغه دوست د هغه سره مرسته کړې وه، هغه یې تشویق کړی ؤ او په هرځای کښې هغه سره څنګ پر څنګ درېدلی ؤ. آیا تاسو هم همداسې یو دوست لرئ؟ او که نه لرئ نو آیا داسې یو دوست ته اړتیا لرئ؟

ستاسو هیله څه ده چې څه ډول ملګری ولرئ؟ ممکن دداسې یو ملګري په لټه کښې یاست چې تاسو سره مینه وکړي، تاسو او ستاسو ستونزو ته پاملرنه وکړي او ستاسو په غم او په ښادۍ کښې شریک وي. داسی یو دوست غواړئ چې په پوره ډول تاسو ته مخلص او ریښتونی وي. همیشه تاسو ته ربنتیا او حقیقت ووایي که څه هم په تاسو بده لګیږي او تاسو خپه کوي. په ډیره نرمۍ او مهربانۍ سره ستاسو غلطۍګانې او تېروتنې تاسو ته په ګوته کړي ترڅو وکولی شي تاسو ته په ښه توګه خپله ښیګڼه ورسوي.

ښایي د داسې یو دوست په لټه کښې یاست چې له تاسو څخه پوه، هوښیار، قوی او ښه وي ترڅو وکولی شي هره ورځ تاسو ته تعلیم او ښوونه درکړي او په هر کار کښې ستاسو

مرسته وکړي. همداسې یو دوست او ملګری به په یقیني توګه کولای شي ستاسو ټولو پوښتنو ته ځواب ورکړي او تاسو سره په ټولو مشکلاتو کښې ملګرتیا او مرسته وکړي. ځومره ډېر وخت چې له یو بل سره تیروئ هغومره زیات به د هغه په شان کیږئ. یعنې ډېر قوي، ډېر هوښیار او ډېر ښه او حتی د هغه څه نه به هم په تاسو کښې زیات بدلون راشي چې تاسو اوس یاست.

عیسی مسیح د خپلو شاګردانو لکه پولوس، پطرس، یعقوب او یوحنا لپاره همداسې یو ملګری ؤ. مسیح د ناروغانو ملګری ؤ او هغوی ته یې د ناروغیو څخه شفا ورکوله. هغه د ګناهګارانو ملګری ؤ او هغو له یې بخښنه، نوی او سپېڅلی ژوندون ورکاوه. هغه دټولو هغو خلکو ملګری ؤ چې له هغه سره د ملګرتیا غوښتونکي ؤو. شتمن ؤ که غریب، ګناهکار ؤ که بیګناه، بیسواد ؤ که باسواد. د هر نژاد او ملت څخه چې به ؤ. عیسی مسیح له هغوی سره داسې مینه او محبت وکړ چې ساری یې نه ؤ لیدل شوی. او دا ډېره ژوره، سوچه او له اخلاصه ډکه مینه وه ځکه چې دا د خدای مینه وه او هغوی پخوا کله هم داسې مینه نه وه لیدلې. هغه هغوی ته حقیقت زده کړ او په ټولو ستونزو او مشکلاتو کښې په دوامداره توګه د هغوی مرستندوی ؤ.

خو عیسی د خپل انساني جسم پورې محدود شوی ؤ او همدا محدودیت د دې سبب ګرځېدلی ؤ چې د وخت په هره شیبه کښې هغه یوازې په یو خاص ځای کښې حضور ولري.

هغه نشو کولای چې په یو وخت کښې خپلو ټولو دوستانو ته چې د هغه مرستې ته یې اړتیا درلوده، ځان ورسوي. نو ځکه عیسی خپلو پیروانو ته وویل چې هغه به بېرته آسمان ته ستون شي او د هغوی لپاره به یو بل مرسته کوونکی ملګری راواستوي چې ټول عمر به له هغوی سره وي.

یوحنا ۱۴: ۱۶-۱۷. "او زه به پلار ته خواست وکړم چې تاسو ته یو بل مرستندوی درکړي ځوک چې به همیشه تاسو سره وي. او هغه به د حق روح وي، دنیا هغه نشی قبلولی ځکه چې دنیا خو نه هغه وینې او نه یې پیژني خو تاسو یې پیژنئ ځکه چې هغه تاسو سره اوسي او په تاسو کښې وي."

هغه ملګری چې عیسی مسیح یې وعده کړې وه روح القدس دی چې د تثلیث اقدس دریم شخصیت دی. همدرانګه روح القدس په خپل ماهیت، قدرت او هدف کښې د پلار خدای او د هغه د زوی عیسی مسیح په څیر خدای دی. هغه له هرشي څخه خبر دی، د پوره قدرت لرونکی دی. هغه جسم نه لري او کولای شی چې په یو وخت کښې په هرځای کښې موجود وي. عیسی د خپلې وعدې په مطابق روح القدس راولیږه. نو په همدې اساس روح القدس کولای شي چې په ټولو هغو خلکو کښې ځای ونیسي څوک چې ورباندې ایمان راوړي. روح القدس د دې لپاره راغلی دی ترڅو هغه څه چې عیسی خپلو پیروانو ته سرته رسولي ؤو هغه تاسو ته سرته ورسوي.

یو حنا ۱۶: ۷. "خو بیا هم زه تاسو ته ریښتیا وایم چې دا ستاسو د بهترۍ لپاره ده چې زه له تاسو څخه جدا کېږم. که چېرې زه ستاسو څخه لاړ نه شم نو مرستندوی به رانشي او که چېرې زه لاړ شم نو هغه به زه تاسو ته راواستوم."

ایا کله داسې پېښ شویدي چې تاسو احساس کړئ چې هیڅ څوک نشته چې تاسو درک کړي او یا ستاسو مشکلاتو ته پاملرنه وکړي؟ خو په دې پوه شئ چې خدای پخپله تاسو او ستاسو ستونزو ته کلکه پاملرنه لري. هغه ستاسو په ضرورتونو پوهېږي. هغه تاسو سره دومره مینه لري چې خپل مقدس روح یې استولی دی ترڅو ستاسو خاص ملګری او مرستندوی وي. په دې کتاب کښې به تاسو ولولئ چې روح القدس څرنګه نازل شو او د لومړنیو مسیحیانو لپاره یې کوم کارونه سرته ورسول او تاسو لپاره به کوم کارونه ترسره کړي. د روح القدس په څېر د یو دوست په لرلو سره به تاسو خپل ځان هېڅکله یواځې او بې کسه احساس نکړئ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

په دې برخې (هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ) کښې ځینې سوالونه او تمرینونه دي چې ستاسو سره به مرسته وکړي ترڅو هغه څه چې مو مطالعه کړي دي، هغه یو ځل بیا تکرار او په عملی توګه ورڅخه کار واخلئ. هیله ده چې خپل جوابونه له ځان سره په یوې کتابچې کښې د یادداشت په بڼه ولیکئ.

۱- د هغه څه په هکله چې عیسی مسیح د خلکو لپاره سرته رسول او هغه څه چې روح القدس به یې زمونږ لپاره سرته رسوي، د یوې شېبې لپاره ژور فکر وکړئ.

۲- یو حنا ۱۶:۱۴_۱۷ له یاده زده کړئ.

## هغه به ستاسو مرسته وکړي

عیسی مسیح و فرمایل چې هغه به یو بل مرستندوی راواستوي. هغه کلمه چې هغه په یونانۍ ژبې کښې ورځخه کار واخیست (پارا کلیت) ده چې کله کله د دلاسا کوونکي په توګه هم ترجمه شوېده. یعنې دا کلمه د هغه شخص په معنی ده چې د مرستې لپاره راغوښتل کېږي. د پاراکلیت د کلمې نورې معناوې مونږ ته دا په ډاګه کوي چې د روح القدس مسئولیتونه او قدرتونه کوم دي او هغه څنګه ستاسو مرسته کولای شي. تاسو به وګورئ چې هغه تاسو سره څرنګه ملګرتیا کوي، هغه د ژوند ساه، سپېڅلی روح، روح القدس، رېښتنی روح، د حکمت روح، د مسیح روح او د خدای د روح په نومونو نومول شوی دی. ستاسو چې هر ډول ستونزه وي ستاسو مرستندوی ملګری د هغې د حل لارې لري.

### د ژوندون ساه

آیا جسماني شفا ته اړتیا لرئ؟ د نړۍ په شاوخوا کښې ډېر خلک د دعاګانو په قبلیدو سره په معجزانه توګه شفا مومي، کاڼه په اوریدلو قادر کېږي، ړانده بینا کېږي، شلان او ګوډان خپل د لاس لرګي یوی خواته غورځوي او د روح القدس په

قدرت سره یوځل بیا په ګرځېدو پیل کوي. روح القدس د ژوندون ساه ده چې ټولو ژوندیو موجوداتو ته ژوند وربخښي. هغه د ناروغانو په رغونه کښې د عیسی مسیح له لارې کار کاوه او تر اوسه هم هماغه دنده په غاړه لري.

په وروستي درس کښې به ولولو چې روح القدس څنګه کولای شي چې هم ستاسو جسم او هم ستاسو روح ته ژوند او سلامتي وبخښي. یعنی د خوښۍ او خوشحالۍ څخه ډک ژوند په دې نړۍ او پرتمین او ابدي ژوند په راتلونکې نړۍ کښې. مګر د هغه ژوندون څخه د خوند اخیستلو په خاطر چې روح القدس یې تاسو ته درکوي، باید هغه ته اجازه ورکړئ چې ستاسو لارښوونه وکړي.

رومیان ۸: ۵-۶. "هغه څوک چې انساني دي نو د انساني فطرت په مطابق اوسي او هغه څوک چې روحاني دي نو هغوی د روح په مطابق اوسي. په انساني فطرت کښې د اوسېدلو انجام مرګ دی او په روح کښې د اوسېدلو انجام ژوندون او سلامتي ده."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۳- د روح القدس اوه صفتونه له یاده زده کړئ.

۴- آیا دې ته لیواله یئ چې روح القدس دې ستاسو ملګری او مرستندوی شي؟

۵- آیا غواړئ چې روح القدس په ښه توګه وپیژنئ؟

٦- رومیان ٥:٨-٦ پنځه ځله ولولئ.

## روح القدس

آیا دا کار تاسو ته سخت ښکاري چې په یوې ښې او رېښتنې طریقې سره ځانته د ژوندانه لاره غوره کړئ؟ آیا غواړئ چې یو ښه مسیحي جوړ شئ؟ پدې کار کښې ستاسو مرستندوی او ملګری روح القدس یا سپېڅلی روح دی. د مقدس یا سپیڅلي د کلمې معنی دا ده چې، د ګناهونو څخه بېلېدل او خدای ته وقف کیدل. روح القدس مونږ ته ښئ چې زمونږ ګناهونه څومره وېرونکي او هیبتناکه دي او مونږ څنګه له هغو څخه خلاصون مومو. کله چې مونږ روح القدس ته دا اجازه ورکوو چې له خپلې لارې په مونږ کې کار وکړي، هغه مونږ خدای ته نژدې کوي او د هغو ګناهونو لکه غرور، خودخواهي، چغلي، غصه، کینه، نفرت، تعصب، خفګان، سستی، سرکشي یعنې د خدای د حکمونو څخه سر غړونه، طمع، او هغه کارونه او خیالونه چې د عزت او پاکوالي مخالف وي، لېرې ساتي.

ښایي د یوڅه بدو عادتونو څخه د خلاصون په خاطر مرستې ته اړتیا ولرئ. که چېرې ځان مسیحی ګڼئ نو پدې حالت کښې ستاسو جسم د روح القدس ټاټوبی او عبادتخانه ده. روح القدس تاسو سره مرسته کوي ترڅو د هغو بدو عادتونو څخه خلاصون ومومئ چې ستاسو بدن ته نقصان رسوي. په زرګونو خلک چې په نیشه ایي توکو اخته ؤو نن ورځ یې د

همدې روح القدس په مرستې سره د دې ناوړه عمل څخه خلاصون موندلی دی. د روغتیا او درملنې علم او د ټولنیزو کارونو خدمتګاران یوازې دومره کولای شي چې په نیشو باندې اخته خلکو ته موقته آرامي او هوسايي ور په برخه کړي. خو دغه په نیشو باندې اخته خلکو د وروستۍ هیلې په توګه په ډېرې خواشینۍ سره خپل لاسونه د خدای لوري ته اوږده کړل او د هغه درګاه ته يې مخه کړه. وروسته له دې چې عیسی مسیح يې د خپل ژغورونکي په توګه قبول کړ او په هغه يې ایمان راوړ، نو د روح القدس څخه يې وغوښتل چې هغوی ډک کړي او هغوی ته قوت ورکړي ترڅو د خدای لپاره ژوند وکړي. نوکله چې روح القدس د هغوی بدن ډک کړ، هغوی د نیشې ددې ناوړه عادت څخه خلاص شول. روح القدس ددې خلکو وجود د خدای له مینې څخه ډک کړ. او په هغوی کښې يې دا لیوالتیا پیدا کړه چې خپل ځان او نورو سره مرسته وکړي. په نیشه باندې ددې اخته خلکو څخه زیاتره يې اوس د مسیح د انجیل وعظ کوونکي دي. د هغوی ژوند کاملاً پاک دی ځکه چې د قدوسیت روح په هغوی کښې مېشته دی.

اول پطرس ۱:۲. "او دخدای پلار د ازلي ارادې په مطابق تاسو د روح القدس په پاکولو سره دعیسی مسیح فرمانبردار شوئ او د عیسی مسیح وینه ستاسو لپاره تویه شوه چې تاسو پاک شئ."

**هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ**

۷- آيا داسې بد عادتونه او يا ګناهونه لرئ چې وغواړئ روح القدس تاسو د هغو د زولنو څخه آزاد کړي؟ که چېرې وي نو د کاغذ په مخ يې په داسې ډول وليکئ چې يوازې تاسو او خدای وکولی شئ چې هغه ووينئ. بيا د روح القدس څخه وغواړئ چې د حالاتو څارنه په خپل لاس کښې ونيسی او تاسو ددې بدو عادتونو څخه خلاص کړي.

## هغه به تاسو ته تعليم در کړي

### د حقيقت روح

لکه څنګه چې عيسی مسيح خپلو شاګردانو ته دحقيقت تعليم ورکړ او د هغو پوښتنو ته يې ځوابونه وويل، روح القدس به هم تاسو ته تعليم درکړي. هغه به ستاسو ټولو پوښتنو ته چې د خدای په هکله يې لرئ ځوابونه ووايي. هغه به تاسو ته د ژوند هدف درښکاره کړي. روح القدس به تاسو سره د مقدس کتاب په پوهېدلو کښې مرسته وکړي. هغه شيان چې تاسو ته لکه د معما په شان پټ او ناڅرګند ؤو هغه به سمدستي تاسو ته ښکاره او بربنډ شي. عيسی فرمايلي دي.

> يوحنا ۱۶: ۱۳ . "خو کله چې د حقيقت روح راشي نو هغه به تاسو ته دا ټول حقيقت وښيئ ځکه چې هغه به د خپله ځانه هېڅ نه وايي، خو هغه څه به وايي کوم چې هغه اوري او هغه به تاسو د راتلونکو واقعاتو څخه خبر کړي."

پدې وروستیو کښې د خدای پېژندنې یوه ډله زده کوونکي د روح القدس څخه ډک شول. او د خدای د کلام حقایق په ناڅاپی توګه هغوی ته «راڅرګند شول». داکار دومره حیرانوونکی ؤ چې د هغوی ښوونکي د هغوی د روحاني غوښتنو ددرک څخه عاجز او حیران شول. رښتینی روح پرهغوی باندې نازل شوی ؤ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸- یوحنا ۱۶: ۱۳ له یاده زده کړئ.

۹- ایا غواړئ چې رښتینی روح تاسو ته هم تعلیم درکړي؟

## د حکمت روح

ایا حیران پاتې یئ چې خپلې ستونزې او مشکلات څرنګه حل کړئ؟ د حکمت روح راغلی دی چې تاسو سره مرسته وکړي. هغه به ستاسو لارښوونه وکړي او تاسو ته به وښیئ چې د حل ډیره ښه لاره کومه ده. په څلورم لوست کښې به ددې کار د ترسره کېدو د څرنګوالي په اړه زیات مطالب ولولئ.

آیا د حکمت غوښتونکی یئ ترڅو د خدای لپاره کار وکړئ؟ داعمالو په کتاب کښې ګورئ چې د کلیسا مشران باید د ورح القدس څخه ډک وي ترڅو خپلې دندې په ښه توګه سرته ورسوي.

ښايي د یکشنبی دورځې د تدریسي چارو دنده درپه غاړه وي او یا د شخصي زیري د رسولو په کار کښې بوخت یاست او

یا هم وعظ او تبلیغ کوئ. په هر حالت کښې د حکمت روح دې ته چمتو دی تر څو تاسو ډک کړي او لکه د لومړنیو کلیساګانو د خادمینو په څېر ستاسو مرسته هم وکړي.

اعمال ۶: ۱۰. "خو دهغه (استیفان) د روح د حکمت په وړاندې ټینګ نشول."

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱۰- آیا دا اړتیا په ځان کښې وینئ چې د حکمت د روح څخه ډک شئ؟

## هغه به تاسو ته خدای په حقیقي بڼه در و پیژني

### د خدای روح

آیا خدای تاسو ته په واقعي توګه ښکاري؟ آیا هغه تاسو ته د یو باقدرته مشر حکمران په څېر ښکاري چې دآسمانونو په اوچتو او لوړو ځایونو کښې ناست دی او تاسو یوازې د ژوندانه په ناخوالو کښې هغه ته مخه راواړوئ؟ او یا هغه مهربانه پلار دی چې ستاسو د ژوند ډېرو کوچنیو جزئیاتو ته خورا اهمیت ورکوي؟ آیا ستاسو دعاګانې هغه لنډې خبرې دي چې د عادت په توګه ستاسو په ژبو جاري وي؟ او یا هغه ساده او ښکاره خبرې اترې دي چې له خپل پلار سره یې لرئ؟ د خدای روح ددې لپاره راغلی دی چې د خدای په ښه پیژندنه کښې ستاسو سره مرسته او ملګرتیا وکړي.

اول کورنتیان ۲: ۱۰- ۱۲. "هغه ټول خدای په مونږ د

روح په وسیله ظاهر کړل، ځکه چې روح دغه ټولې خبرې و آزمایې بلکه د خدای پټې خبرې هم معلوموي. څوک د بل انسان د زړه خبرې معلوموی شي بغیر د انسان د خپل روح نه چې په هغه کښې دی؟ دغه شان د خدای د روح نه بغیر هیچاته د خدای خبرې معلومې نه دي. خو مونږ د دنیاوي روح څخه نه دي موندلي بلکه د هغه روح څخه چې د خدای د طرفه دی، ددې د پاره چې هغه خبرې وپېژنو کومې چې خدای مونږ ته رابخښلي دي."

ستاسو ښوونکی به تاسوته هغه دعا دریاده کړي کومه چې پولوس د (افسس) مسیحیانو ته ورښودلې وه.

افسیان ۱: ۱٦- ۱۹. "ستاسو په هکله د شکر وېستلو څخه پاتې کېږم نه، او په خپلو دعاګانو کښې تاسو یادوم، چې زمونږ د مالک عیسی مسیح خدای چې د جلال پلار دی تاسو ته خپل روح القدس درکړي او هغه روح تاسو ته حکمت درکړي او تاسو ته به یې خدای ظاهر کړي چې تاسو هغه ښه وپېژنئ. او زه غواړم چې ستاسو د زړه سترګې روښانه شي چې تاسو پوه شئ چې هغه تاسو د څومره لوی امید دپاره رابللي یئ، یعنې د هغه شاندار میراث چې هغه د خپلو خلکو دپاره ساتلی دی څومره لوی دولت دی. او زمونږ ایمان راوړونکو دپاره د هغه لوی قدرت څومره بې شانه دی. دا زوره ور قوت په مونږ کښې خپل اثر اچوي."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۱۱- افسیان ۱: ۱۶- ۱۹ پنځه ځله په غور سره ولولئ. دا دعا .د خدای په حضور کښې د خپل ځان او نورو دپاره وکړئ. .

**د مسیح روح**

روح القدس یا د مسیح روح، کله چې عیسی مسیح تاسوته خلاصون درکاوه هغه یې تاسو لپاره ربښتینی وګرځاوه. د هغه په مهربانۍ تاسو دا موقعه ترلاسه کړه ترڅو عیسی مسیح د یو ښوونکي څخه هم زیات وپېژنئ چې په تېرو پیړیو کښې مو پېژندلي دي. هغه شخصاً تاسو عیسی، د خدای زوی ته وروپیژندلئ او هغه د خپل ځان د خلاصون ورکوونکي، مالک خدای او پادشاه په توګه د هغه په قبلولو کښې یې ستاسو مرسته وکړه. روح القدس تاسو د عیسی مسیح سره ونښلولئ او دهغه د بدن یو غړی یې جوړکړئ، یعنې د کلیسا غړي شوئ.

دغه پیوستون او یووالی تر هغه حده پوری واقعي او ریښتونی دی چې مسیح له خپل روح سره په تاسو کښې اوسي او ژوند کوي.

رومیان ۸: ۹. "او که څوک چې د مسیح روح نلری نو هغه هم د هغه ندی."

روح القدس د پنطیکاست د ورځې څخه مخکې هم د عیسی مسیح د پیروانو سره ؤ، مګر عیسی مسیح وعده وکړه

چې هغه به په نوې بڼې او طرز سره راوګرځي او هغوی به ډک کړي. په خپله عیسی مسیح به هغوی ته د روح القدس د تعمید غسل ورکاوه. کله چې عیسی خپلو شاګردانو ته د تعمید غسل ورکړ نو روح القدس ډیر زیات شیان هغوی ته وښودل او هغوی یې پدې قادر کړل چې نورو ته هم روح القدس خپور کړي او خلک د عیسی مسیح سره اشنا کړي.

نو په دې توګه هغه ټول خلک چې د خدای په کورنۍ کښې نوی زیږیږي، هغوی د مسیح د روح څخه برخمند دي. عیسی مسیح غواړي چې هغوی ته په خپل روح کښې د تعمید غسل ورکړي ترڅو په دې توګه د هغه ګټور شاهدان جوړ شی. پدی اړه به وروسته دیر زیات مطالب وڅېړل شي.

یوحنا ۱۵: ۲۶او ۱۶: ۱۴. "خو چې مرستندوی راشي کوم چې به زه تاسو ته د پلار څخه استوم، یعنې د حقیقت روح چې د پلار څخه راوزي، هغه به زما په باره کښې شهادت ورکوي. هغه به زما جلال ښکاره کوي ځکه چې زما څخه به یې اخلي او تاسو به ورباندې خبر کړي."

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱۲-ایا خوښ یاست چې روح القدس تاسو ته عیسی مسیح زیات په حقیقي توګه در وپېژني؟ که چېرې ستاسو جواب هو وي نو دهغه څخه وغواړئ چې دغه کار سرته ورسوي.

## هغه به ستاسو ژوند دمینې څخه ډك كړ ي

هغه څه ته چې زمونږ نننۍ نړۍ ډیره زیاته اړتیا لري هغه پاکه او بې غرضه مینه ده. دا مینه د خودخواهۍ څخه لېرې ده او هغه مینه ده چې یوازې خدای قادر دی هغه څرګنده کړي. که چېرې تاسو روح القدس ته اجازه ورکړئ چې تاسو د داسې یوې مینې څخه ډک کړي، خدای کولای شي ددې اړتیا د پوره کولو لپاره ستاسو څخه کار واخلي..

د زړې لوظنامې په زمانه کښې خدای پاک د پیغمبرانو سره خبرې وکړې او له دې لارې یې خپله مینه هغوی ته ورښکاره کړه. پیغمبرانو د هغې مینې په اړوند چې خدای درلوده له خلکو سره خبرې وکړې. خو له دې سره سره ځینو خلکو خدای ته د یو سختګیره قاضي په سترګه کتل چې هره شیبه چمتو ؤ چې هغوی ته د خپلو ګناهونو په سبب سخته سزا ورکړي. هغوی نه پوهیدل چې خدای غواړي هغوی له خپلو ګناهونو څخه وژغوري. او د هغوی روحاني پلار شي.

بالاخره خدای خپل ځوی عیسی مسیح راولیږه ترڅو د انسانانو په منځ کښې ژوند وکړي او خدای هغوی ته په خپله اصلي بڼه وروپیژني. د عیسی مسیح په تعلیماتو کښې د خدای هغه عجیبه مینه چې له انسان سره یې لري په ډېره ښه توګه څرګنده او روښانه ده. د مسیح په ژوند کښې تاسو کولای شئ چې په ډېره ښه توګه ددې مینې عملي بڼه وګورئ. د مسیح مرګ او بېرته راژوندي کېدل چې ستاسو لپاره ترسره شو، ددې مینې ډېر ښه ثبوت دی.

مګر هغه څه چې دوه زره کاله مخکی پېښ شول ممکن

اوس ډېر پخواني معلوم شي. مونږ نن ورځ ددې زمانې له ستونزو او مسئلو سره مخامخ یو کوم چې په اوسني عصر پورې تړلي دي. لکه لوږه، زورزیاتی، جنایت، تیری، جنګ جګړه او داسې نور. او حیران یو چې آیا په رښتیا خدای زمونږ سره مینه لري او دا هر څه څاري. مونږ دې ته اړتیا لرو چې په خپله له هغه سره ملاقات وکړو او په دې ځان ډاډه کړو چې هغه واقعاً مونږ سره مینه لري.

د همدې مقصد لپاره روح القدس را نازل شوی دی ترڅو تاسو پخپله د خدای سره مخامخ کړي. لکه څنګه چې عیسی مسیح راغی ترڅو د پلار مینه دنیاوالو ته څرګنده کړي، هم هغسې روح القدس هم نازل شوی دی ترڅو د خدای پلار مینه او دهغه د ځوی مینه خلکو ته ښکاره کړي. کله چې تاسو په عیسی مسیح ایمان راوړئ، روح القدس ستاسو په زړونو کښې بې شانه مینه جاري کوي. او کله چې د روح القدس د تعمید غسل اخلئ نو داسې ښکاري چې په الهي مینه کښې ستاسو وړتیا او طاقت زیات شوی دی. .د ژوند په اوږدو کښې تاسو کولای شئ چې په دایمي توګه د خدای له مینې څخه ډک شئ مخصوصاً کله چې تاسو په دوامداره توګه له دې پاک روح څخه ډک کیږئ.

رومیان ۵:۵. "او دا امید تنش خوش فهمي نه ده ځکه چې د روح القدس په وسیله چې مونږ ته راکړای شو، زمونږ زړونه د خدای له مینې څخه ډک کړای شول."

مینه او محبت په پنځو طریقو ستاسو ژوند ډکوي.

۱- هغه مینه چې خدای یې له تاسو سره لري.

۲- هغه مینه چې تاسو یې له خدای سره لرئ.

۳- هغه مینه چې تاسو یې له نورو مسیحیانو سره لرئ.

۴- هغه مینه چې نور مسیحیان یې له تاسو سره لري.

۵- هغه مینه چې له نورو انسانانوسره یې لرئ.

هغه کسان چې له روح القدس څخه ډک شویدي خپلې تجربې داسې بیانوي.

((د روح څخه ډکوالی ماته په مینه کښې د تعمید غسل ؤ. ما یو ناڅاپه په خپل زړه کې د خدای او د هغه د کلام په اړه یوه لویه مینه احساس کړه.))

((روح القدس زما په زړه کښې د کورنۍ، دوستانو، نورو مسیحیانو او حتی د هغو کسانو لپاره چې زما دښمنان ؤو، یوه تازه مینه پیدا کړه.))

((روح القدس ماته ګلګته په حقیقت بدل کړه. زما زړه د خدای له مینې څخه ډک شو. زما ټول وجود د خدای پاک له مینې څخه ډک شو. زه له دې مینې څخه ډک شوم او زما شونډو د خدای په ستاینې پیل وکړ.))

((کله چې د ورک شویو ځانونو په خاطر د خدای مینې زما وجود ډک کړ، زما ټول بدن په رېږدېدو شو او زه په ژړا پریوتم او روح القدس زما له لارې د هغوی د خلاصون لپاره دعا

وکړه.))

په اوسنۍ زمانه کښې کليسا ګانې د هغو اصولو او نمونو څخه پېروي کوي کوم چې لومړنيو کليساګانو کاوه: ((وګورئ څنګه له يوبل سره مينه کوي.)) هر چېرې چې قدم ږدئ ستاسو د خويندو او ورونو هغه مينه چې له خدای سره يې لري، خپل ارزښت په ښه توګه ښکاره کوي. که چېرې دا اجازه ورکړئ چې روح القدس تاسو ډک کړي، تاسو ته به يو خوشاله او آرامه ژوندون درپه برخه شي چې پخوا تاسو ته ناممکنه وه.

**هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ**

۱۳- د روميانو ۵:۵ آيت له ياده زده کړئ.

۱۴- د محبت پنځه طريقې تشريح کړئ.

۱۵- ددې کتاب د لوستلو په دوران کښې هره ورځ د رسولانو د عملونو له کتاب څخه لږ تر لږه يو فصل هم مطالعه کړئ. هر چيرته چې د روح القدس نوم مخې ته درځی د هغه لاندی يوه کرښه وباسئ. وروسته بيا د هغې په اړه يو ګزارش وليکئ.

۱۶- که چېرې وغواړو چې روح القدس زمونږ سره مرسته وکړي نو لومړی قدم دا دی چې خپلې اړتياوې وپېژنو، د دې لاندينې هر عنوان په مقابل کښې که چېرې تاسو ته د اړتيا کوم احساس پيدا کېږي د (ن) کلمه وليکئ.

ملګری........ ربښتينی روح .............

تسلي ورکوونکی.... د مسیح روح .............

د خدای روح........... د حکمت روح ............

د ژوند روح............ د قدوسیت روح .........

اوس بیا همدغو عنوانونو ته مراجعه وکړئ او د هر یوه مخې ته چې تاسو هغه تجربه کړې وي او د روح القدس په مرسته له هغې سره آشنایي لرئ د (ت) ټکی ولیکئ. وروسته بیا د هغه څه په هکله چې روح القدس ستاسو دپاره کړي دي فکر وکړئ. بیا د هغو اړتیاوو په هکله چې د (ن) په توري سره مو نښه کړي دي، دعا وکړئ. تاسو پوره آزادي لرئ. کېدای شي چې زړه مو وغواړي چې دغه اړتیاوې په یوې بېلې پاڼې کې ولیکئ او په خپل مقدس کتاب کښې هغه یاداشت کړئ ترڅو همیشه در په یاد وي او ورته دعا وکړئ. د هرې دعا د قبلېدو په صورت کښې د خدای شکر پر ځای کړئ.

# ستاسو یادداشت

دوهم لوست

# روح القدس تاسوته ژوند درېخښي

**هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ**

- ستاسو د بدن لپاره ژوند او سلامتیا
- ستاسو د روح لپار ه ژوند او سلامتیا
- هغه ژوندون چې پکښې هدف نغښتی دی

**ژوره کتنه**

روح القدس تیار دی چې مونږ ته دا وس راکړي چې د خدای فکرونه ولرو. زمونږ طبعیی خیالونه په خپل محور کې څرخیږي، په داسې حال کښې چې الهی کړنلاره د خپل ځان څخه انکار کول غواړي. زمونږ سره د خپل ځان فکر وي، مګر خدای دنورو په هکله فکر کوي. له دې کبله داسې یو کار باید

صورت وومومي چې انساني خیالونه له الهی خیالونو سره په یوې لارې باندې روان کړي. د روح القدس نازلېدل ددې کار د ترسره کولو لپاره ؤ.

روح القدس راغی ترڅو مونږ ته دا قدرت راکړي چې د خدای په احساساتو کښې شریک شو. چې د خدای د دغو احساساتو څخه یوه هماغه مینه او محبت دی. بشر ددې قدرت نلري چې د ورک شویو کسانو لپاره انتظار وباسي، خپل وخت او طاقت ضایع کړي او د لویدلو خلکو لپاره ژړا او ورته دعا وکړي. یوازی د خدای روح دی چې کولای شي داسې یوه مینه په مونږ کښې راپیدا کړي.

روح القدس راغلی دی چې مونږ په دې قادر کړي چې هغه دعا د خدای حضور ته وړاندې کړو چې د هغه دعا هم ده. او د الهی قوت ترسیوري لاندې د هغو شیانو د حصول لپاره دعا وکړو کوم چې خدای یې مونږ ته راکول غواړي. مونږ نه پوهیږو چې د خدای څخه څه وغواړو، او ددې قدرت هم نه لرو چې خپل د زړه پټ رازونه په هغه بڼه کښې چې دي دخدای حضورته وړاندې کړو. همدلته ده چې روح القدس زمونږ سره په دغې کمزورتیا کښې مرسته او ملګرتیا کوي. اوس نو مونږ لږ تر لږه د glossolalia (په نورو ژبو خبرې کول) په یو مهم اړخ باندې پوهېږو. دیهودا رساله مونږ دې ته هڅوي ترڅو په مقدس ایمان کښې خپل ځان لپاره ځای جوړ کړو او «په روح کښې دعا وکړو». څومره با برکته امتیاز مونږ ته راپه برخه شویدی چې مونږ د بشری درک او پیژندنې څخه اخوا هم لاره موندلې ده، په

روح کښې دعا کوو او د خدای په سپېڅلي مکان کښې داخلېږو. او په شفاعت کښې مرسته او ژوندی شراکت د خپل خدای سره قایموو.

بلاخره روح القدس راغلی دی ترڅومونږ په دې باندې قادر کړي چې د خدای کار ترسره کړو. دخدای طریقه او کړنلاره په همدې توګه ښکاره شوې ده. ((نه په قدرت، نه په قوت بلکه زما په روح. یهوه صبایوت داسې فرمايي.))

د ((پاراکلیت)) د مجلې د ((ولې روح القدس نازل شو؟)) په نوم له مقالې څخه . ۱۹۷۰ لیکونکی، ملوین ال هاجز.

## ستاسو د بدن لپاره ژوند او سلامتیا

### د ژوندون د روح څخه ژوند

روح القدس تاسو ته داسې یو ژوندون درکړ چې د دنیا د ټولو شتمنیو څخه با ارزښته دی. د روح القدس د نومونو له جملې څخه دوه نومونه، ((د خدای روح)) او د ((ژوند روح)) دي. روح القدس د پلار خدای او مالک عیسی مسیح سره د دنیا په پیدایښت کښې مهم رول درلود. د ژوند روح دې نړۍ ته ژوندون وبخښه. د هغه ژوند بخښونکی قدرت یوداسې طاقت دی چې د طبیعت قوانینو ته عملی بڼه ورکوي. ستاسو ملګری د ژوند روح د طبیعی قوانینو له لاری د ژوندون د معجزې په سرته رسولو کښې مهم ارزښت او ونډه درلوده. هغه قوانین چې ستاسو زېږېدنې ته یې لاره پرانیسته.

ایوب ۳۳: ٤ ."ځکه د خدای روح زه پیداکړم او دقادر

مطلق پوکي زه ژوندی کړم.“

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۱- ایوب ۳۳: ٤ له یاده زده کړئ.

۲- د روح القدس د نومونو څخه هغه دوه نومونه چې په دې برخې کښې بیان شول څه ؤو.

**د ژوند له روح څخه سلامتي**

کله چې کمزوري شئ څوک به تاسو ته نوی قوت درکوي؟ او یا کله چې ناروغه یئ څوک کولای شي تاسو ته سلامتي درکړي؟ څوک کولای شي چې تاسو د هغو زهرو څخه چې ستاسو په چاپیریال کښې دي او د هغو ناروغیو څخه چې تاسو ورسره مخ یاست ستاسو ساتنه وکړي؟ څوک کولای شی چې د هغو خفګانونو څخه چې له ورځنیو ستونزو څخه پیدا کیږي، تاسو وساتي او په بدل کښې خوشحالي او نیکمرغي درپه برخه کړي؟ څه شی کولای شي چې د نشه لرونکو توکو او الکولو د معتاده کیدلو قدرت ته ماتې ورکړي؟ څوک کولای شي ړانده بینا، کاڼه اوریدونکي، او شلانو ته د تللو قدرت ورکړي؟ څوک د دې وس لري چې سرطان، جذام (خوړونکی)، د زړه ناروغي او بالاخره ټولو هغو ناروغیو ته چې د ځمکی په مخ وجود لري شفا ورکړي. او څوک کولای شي چې حتی مړي ژوندي کړي؟ ستاسو دوست، د ژوند روح! هغه چا چې زمونږ جسم جوړ کړ، هغه په دې هم ښه پوهیږي چې هغه بیرته څنګه

روغ او تندرست کړي.

روح القدس د شفا ورکولو لپاره له بېلابېلو لارو څخه کار اخلي. ډېرو به چې کله عیسی مسیح د خپل ژغورونکي خدای په صفت ومانه شفا به یې حاصله کړه. ځینو نورو به کله چې د اوبو او یا د روح القدس د تعمید غسل واخیست نو روغ به شول. ډېرو خلکو به ددعا په وسیله سمدستي شفا موندله او ځینو به په تدریجي توګه شفا موندله. ځینو به چې کله مقدس کتاب لوسته نو شفا به یې حاصلوله. او ځینو به دخدای په مانښام کښې په ګډون کولو سره، په کلیسا کې د ناستې پر وخت، د عبادت په وخت او یا کار ته د تګ په وخت شفا حاصلوله.

کله چې دعا کوئ نو د خدای د ځوی په مقام کښې یې وکړئ، او په دې ایمان ولرئ چې د ژوند روح به خپل ژوندون او قوت په هغه چا نازل کړي کوم چې تاسو ورته دعا کړې ده.

د ژوند روح څومره چې ستاسو بدن ته اهمیت ورکوي په هماغه اندازه ستاسو ذهن او اعصابو ته یې هم ورکوي او ورته سلامتي وربخښي. روح القدس انسان د ستړتیا، سستۍ، ویرې او ټولو روحی ناروغینوڅخه خلاصوی. هغه نن هم کولای شي چې انسانانو ته د بدو او شیطانی روحونو څخه آزادي ورکړي لکه څنګه چې عیسی مسیح په ځمکه کې د خپل خدمت په دوران کښې دا کار ترسره کړی ؤ.

روح القدس به د عیسی مسیح له لارې کار کاوه ترڅو ټولو

هغو کسانوته چې محتاج ؤو شفا او سلامتي ورپه برخه کړي.

اعمال د رسولانو ۱۰: ۳۸. "د عیسی ناصري په باب کښې چې خدای هغه څنګه په روح القدس او په قدرت مسح کړو. هغه به په هر ځای کښې ګرځېده او هغه ټولو سره ښه کول او ځول چې د ابلیس په قبضه کښې ؤو هغه به یې جوړول ځکه چې خدای د هغه سره ؤ."

کله چې عیسی آسمان ته پورته شو، روح القدس یې ولېږه ترڅو د هغه ځای ونیسی. روح القدس ایمانداران ډک کړل او د هغو له لارې یې هغه معجزې ترسره کړې چې د عیسی مسیح له لارې یې ترسره کړې وې.

اعمال د رسولانو ۵: ۱۲ او ۱۶. "نخښې او عجیبه کارونه د خلقو په مخکښې د رسولانو د لاسه ظاهر شول.. او د بیت المقدس شاوخوا ښارونو خلکو به هغه ځول ورته راوستل چې ناروغان ؤو او یا پېریانو نیولي ؤو او هغوی ټول روغ شول."

روح القدس لومړنیو مسیحیانو ته هغه «کاریزما» یا مافوق الطبیعه نعمتونه ورکړي ؤو چې د عیسی مسیح د کار په سرته رسولو کښې یې ورته اړتیا درلوده. ددغو نعمتونو څخه ۹ یې دکورنتیانو د خط په دولسم فصل کښې ذکر شویدي. د هغو له جملې څخه درې یې دا دي، د ایمان نعمت،

د شفا ورکولو نعمت او د معجزو نعمت.

اول کورنتیان ۱۲: ۹-۱۰. "چا ته د هغهٔ روح په وسیله ایمان او چاته هم د هغه روح په سبب د شفا ورکولو توان، چا ته د معجزو طاقت، چا ته نبوت، چاته د مختلفو روحونو پیژندل، او چا ته د قسم قسم ژبو ویلو توان او چاته د ژبو تشریح کول."

نن ورځ ډیر مسیحیان باور لري چې خدای په اوسنۍ کلیسا کښې په هغه طریقه کار کوي چې په لومړنۍ کلیسا کښې ئې د رسولانو د عملونو کتاب په مطابق کاوه. هغوی د عیسی مسیح څخه غواړي چې د روح القدس څخه ئې ډک کړي او عیسی هم همداسې کوي. هغوی د روح القدس څخه غواړي چې دهغوی له لارې خپل نعمتونه څرګند کړي او روح القدس هم همداسې کوي.

یعقوب د شفاد حاصلولو لپاره یوه نسخه (طریقه) وړاندې کوي او وایي چې مونږ باید د کلیسا د مشرانو څخه وغواړو چې زمونږ لپاره په پوره ایمان دعا وکړي. دا مشران کېدای شي چې زیري ورکوونکي یا کشیشان وي او یا هم د کلیسا سمبالوونکي او مرستیالان وی. په مقدس کتاب کښې په تیلو باندې غوړول هغه نښه ده چې د روح القدس نمایندګي کوي. خلک پدې تیلو غوړیږي، ترڅو وښایې چې هغوی د خدای سره تړاو لري او دهغه په روح توکل او باور کوي ترڅو په هغوی کښې کار وکړي. تیل په خپل ذات کښې شفا نه ورکوي، بلکه

شفا روح القدس ورکوي.

یعقوب ٥: ١٤ _ ١٥. " که په تاسو کښې څوک ناروغ وي نو د جماعت (کلیسا) مشران دې راوبلي او د هغه لپاره دې دعا وغواړي او د مالک په نوم دې هغه په تیلو غوړ کړي. او کومه دعا چې په ایمان سره وغوښتل شي د هغې په سبب به ناروغ بچ شي، او څښتن به هغه د مریضۍ د بستري څخه راپورته کړي او که هغه ګناهونه کړي وي هغه به هم معاف شي."

تاسو هم د یو داسې شخص په توګه چې په مالک عیسی مسیح باندې ایمان لري، کېدای شي چې د روح القدس په وسیله د نورو خلکو د شفا لپاره وکارول شئ. تاسو کولای شئ چې د مقدس کتاب له لارې ناروغانو ته وښایي چې عیسی مسیح څنګه هغو ته شفا ورکوله. پرېږدئ چې هغوی په دې وپوهیږي چې خدای تراوسه هم دعاګانې قبلوي او د روح القدس له لاری خلکوته شفا ورکوي. هر څوک چې په عیسی مسیح ایمان لري هغه د دې ځانګرتیا او امتیاز حقدار دی چې مریضانو ته دعا وکړي او د هغو د روغتیا طمع ولري. دا ولې؟ ځکه چې عیسی ددې وعده کړې ده. نو بیا ایمان ولره!

مرقس ١٦: ١٧ _ ١٨. "د ایمان په راوړلو به ورڅخه دا معجزې څرګندیږي چې زما په نوم پیریان لبرې کوي او په نویو ژبو به خبرې کوي. که هغوی مارانو ته لاس وروړي یا زهر وخوري نو هغوی ته به ضرر نه

رسیږي، او په کومو ناروغانو باندې چې هغوی لاس
کیږدي، هغوی به جوړ شي.“

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳- په لاندینۍ جملې کښې خالي ځایونه په مناسبو کلماتو سره ډک کړئ:

دعیسی د وعدې سره سم چې په مرقس۱٦: ۱۷-۱۸ کښې ذکر شویدی.........به په ناروغانو ........ کیږدي او هغوی به ............شي.

٤- آیا نن ورځ هم روح القدس د شفا معجزه سرته رسوي؟

**د ژوند د روح په وسیله بیا ژوندي کیدل**

روح القدس عیسی مسیح د مړو څخه بیرته راژوندی کړ او دهغه بدن یې بدل کړ. روح القدس به دا کار له تا سره هم وکړي. روح القدس اوس هم د خدای په اولادونو کښې اوسیږي ترڅو هغوی ته د هغه ژوند څخه چې عیسی مسیح د هغې وعده کړې وه ډیر زیات ورکړي. او یوه ورځ به ټول هغه خلک چې په عیسی مسیح ایمان لري بیا راژوندي کړي، هغه ژوند چې پس له مرګه به ورکړای شي هغه به د مړو د ژوندي کیدو سبب شي. روح القدس به زموږ بدن داسې بدل کړي چې آسمان ته به پورته شو او د عیسی مسیح سره به ملاقات وکړو. دغه بدل شوی بدن به نور د درد ، مرض، کمزورۍ او مرګ سره مخ نشي.

رومیان ۸: ۱۰-۱۱. "خو که چېرې مسیح په تاسو کښې اوسي نو د هغه روح ستاسو لپاره ژوندون دی، ځکه چې خدای په خپله تاسو صادق کړلئ سره ددې چې وجود مو د ګناه په وجه مړ دی. که چېرې د خدای روح په تاسو کښې اوسي نو بیا خدای چا چې عیسی د مړو څخه ژوندی کړی دی، به ستاسو دې فاني وجودونو ته هم نوی ژوند ورکړي، د هغه روح په وسیله چې په تاسو کښې اوسي."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۵- رومیان ۱۰:۸-۱۱ پنځه ځله ولولی.

۶- د قیامت د امید په خاطر د خدای شکر وکړئ.

## ستاسو د روح لپاره ژوند او سلامتیا

### روحاني ژوندون

ستاسو اړتیاوې یوازې ستاسو په جسماني ژوند باندې نه پوره کیږي. تاسو یو ابدي ژوندون ته چې خدای ستاسو د روح لپاره تیار کړیدی هم اړتیا لرئ. له همدې کبله عیسی ستاسو برخای مړشو ترڅو تاسوته دغه ژوندون درکړي او روح القدس همدغه ژوند تاسوته ډالۍ کړ. هغه بدلون چې د روح القدس د کار په نتیجه کښې په تاسوکښې راځي دومره لوی دی چې عیسی مسیح ورته د نوی زیږیدنې نوم ورکړ. مونږ دې بدلون ته د اوښتون نوم هم ورکوو. هیڅوک دا وس نلري چې د روحاني زیږیدنې د سترې معجزې دلرلو نه بغیر د خدای اولاد شي او یا

آسمان ته لاړشي. عیسی مسیح فرمایلی دي:

یوحنا ۳: ٦-۷ . "چې د انسان څخه پېدا کېږي هغه
جسم دی. خو چې د روح القدس څخه پیدا کېږي هغه
روح دی. نو زه تاسو ته دا وایم چې تاسو له بیا پیدا
کېدل پکار دي نو په دې حیرانېږئ مه."

اوس هغه څه بیانوو چې روح القدس یې د ایمان راوړلو په وخت کښې ستاسو لپاره ترسره کوي.

۱- روح القدس تاسو د عیسی مسیح خواته رهبري کوي. پدی ترڅ کښې تاسو ته ستاسو ګناهونه دربښکاره کوي او درته ښايي چې د خدای څخه په همیشني بېلتون محکوم شوی یئ، او په دې توګه تاسو په عیسی مسیح باندی د ایمان راوړلو او روحاني بدلون دپاره تیاروي.

روح القدس اجازه ورکوي چې تاسو ته پوره روښانه شي چې نشئ کولای خپل ځان پخپله وژغورئ. هغه له تاسو سره مرسته کوي ترڅو پوه شئ چې ((عیسی مسیح ستاسو پرځای مړ شو)). هغه تاسو هڅوي ترڅو خپل ګناهونه پرېږدئ او هغه بخښنه چې مسیح یې تاسو ته وړاندې کوي ومنئ. هغه مسیح ستاسو لپاره رښتینی ګرځوي او له تاسو سره مرسته کوي ترڅو هغه د خپل خلاصوونکي په توګه ومنئ.

۲- روح القدس هغه طاقت او ځواک ته ماتې ورکوي چې ګناه په تاسو راوستې ده. هغه تاسو ته نوی طبیعت درکوي او

ستاسو څخه د خدای اولادونه جوړوي.

رومیان ۸: ۲. "ځکه چې په عیسی مسیح کښې د ژوند ورکوونکي د روح شریعت زه د ګناه او مرګ له شریعت څخه آزاد کړم."

رومیان ۸: ۱۴. "ځکه هر څوک چې د خدای د روح په هدایت چلیږي، هغه د خدای بچی دی."

۳- روح القدس راځي او په تاسو کښې ژوند کوي، ستاسو مرسته او لارښوونه کوي او دا اجازه ورکوي چې وپوهیږئ چې اوس د خدای اولادونه یاست.

اول کورنتیان۶: ۱۹. "آیا تاسو نه یئ خبر چې ستاسو بدن د روح القدس کور دی چې په تاسو کې اوسي او تاسو ته د خدای له طرفه درکړی شوی دی؟ او تاسو د خپل ځان نه یئ"

ګلتیان ۴: ۶. "او په دې سبب تاسو د خدای زامن یئ خدای د خپل ځوی روح زمونږ زړونو ته راولیږه کوم چې د "ابا" یعنې ای پلاره غږ کوي."

رومیان ۸: ۱۵ _ ۱۶. "او کوم روح چې تاسو موندلی دی، هغه د غلامۍ هغه روح نه دی چې تاسو بیا وېروي، خو هغه روح دی کوم چې مونږ زامن جوړوي او مونږ ددې قابل کوي چې مونږ ووایو، "ابا" یعنې

"ای پلاره!" په دې ویلو سره د خدای روح زمونږ د روح سره هم دا وایي د دې شهادت لپاره چې مونږ د خدای بچي یو."

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۷- آیا د توبې او بېرته راګرځیدلو هغه درې مرحلې چې پورته یادې شوې، ستاسو په بیا را ګرځیدنه کښې هم ربښتینې دي؟

۸- که چېرې د هغې تجربې له مخې چې تاسو یې لرئ، په دې پوهېږئ چې له هغو دریو مرحلو څخه ځینې یې ستاسو په ژوندانه کښې ربښتینې نه دي، نو بېرته هغو مرحلو ته مراجعه وکړئ او د هر یو په هکله دعا وکړئ. د روح القدس څخه وغواړئ ترڅو خپل کار په تاسو کښې ترسره کړي.

### روحاني سالمتیا

اول تسالونیکیان ۵: ۲۳. "خدای چې د سلامتۍ سرچینه دی تاسو دې پخپله بالکل پاک کړي او ستاسو روح او ځان او تن دې زمونږ د مالک عیسی مسیح تر راتلو پورې پوره بی عیبه وساتي."

تاسو خپل بدن ته خوراک او پوښاک تیاروئ او په ښه توګه یې پالنه کوئ، دا دڅه د پاره؟ ددې لپاره چې بدن مو قانع شي، راحت وموميء، سلامتیا او قوت پیدا کړي.

دعا ستاسو د روح لپاره هغومره ضروري ده لکه څنګه چې

هوا ستاسو د جسم لپاره ده. په راتلونکي لوست کښې به وګورئ چې څرنګه روح القدس تاسو سره په دعا کښې مرسته کوي.

د خدای کلام ستاسو د روح خواړه دي. روح القدس ددې لپاره راغلی چې تاسو سره د خدای د کتاب په پوهه کښې مرسته او ملګرتیا وکړي. د مقدس کتاب مؤلف پخپله هم هغه دی. په دې توګه ټول هغه څه چې په مقدس کتاب کښې دي، هغه ورباندې پوهیږي او ورته معلوم دي.

ډیر کلونه پخوا روح القدس د خدای خلک دې ته وهڅول چې په مقدس کتاب کښې هغه څه ولیکی چې تاسوېې پوهېدلو ته اړتیا درلوده.

دوهم پطرس ۱: ۲۱. "... بني آدمو د روح القدس د اثر په سبب د خدای له‌طرفه خبرې کولې."

عیسی خپلو شاګردانو سره وعده وکړه چې کله روح القدس راشي نو هغوی ته به تعلیم ورکوي. کله چې شاګردانو د پنطیکاست په ورځ په روح القدس کښې د تعمید غسل واخیست، د هغې وروسته هغوی د خدای د کلام مقصد په بهتره توګه درک کولای شو. ډیر خلک چې همدا اوس په روح کښې ئې د تعمید غسل اخیستی دی، دا حقیقت یې په خپل ژوند کښې تجربه کړی دی.

یوحنا ۱۴: ۲۶ "چې مرستندوی یعنی روح القدس چې

پلار به يې زما په نوم را استوي، هغه به تاسو ته هر څه ښيي او بيا به درته هغه څه رايادوي، کوم چې ما تاسو ته ويلي دي.“

نحميا ۹:۲۰.”خپل د نيکۍ روح دې د هغوی د تعليم لپاره ورکړ.“

کوين او دوروتی راناګان د (( پنطيکاستي تجربو)) په نامه په خپل کتاب کښې ډير زيات شهادتونه ليکلي دي.چې د هغو له جملې څخه د ځينو يادونه کوو.

((ناڅاپه مې خپل ځان د خدای د کلام په کرښو کښې وموندو. داسې راته ښکاريده چې د خدای کلام زه په غېږ کې نيولی يم، او دعا راته يوه حقيقي خوشحالي وه.))

((خپلې د خوب کوټې ته لاړم او د شپې تر دريو بجو پورې مې د مزاميرو (زبور) او درسولانو د عملونو کتاب ولوست. ما ونشو کړای چې مقدس کتاب پرځمکه کيږدم. غوښتل مې چې دا کتاب نور هم زيات ولولم.))

((د کوم وخت څخه چې مې دا تجربه حاصله کړې ده، روح القدس د خدای د کلام څخه دومره تعليم راکړی دی چې پخوا که چيرې ما خپل ټول عمر هم ورته وقف کړی وای، نه مې شو کولای چې دا ټول شيان زده کړم. اوس چې مقدس کتاب لولم د هغه ټول لفظونه زما دپاره ژوندي دي ځکه چې عيسی مسيح زما لپاره ژوندی دی.))

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۹- یوحنا ۱٤:۲٦ له یاده زده کړئ.

۱۰- د مقدس کتاب د لوستلو په اړه چې کومه طریقه تاسو غوره کړې ده په هغې باندې فکر وکړئ. آیا په ریښتیا د هغې له لوستلو څخه خوند اخلئ؟ آیا غواړئ چې په مقدس کتاب باندې په ښه توګه پوه شئ؟

۱۱- د مقدس کتاب او د هغه امتیاز لپاره چې ددعا کولو په اړه یې لرئ د خدای شکر ادا کړئ. د مقدس کتاب د لوستلو څخه مخکې هره ورځ د روح القدس څخه وغواړئ چې د هغه متن له لارې له تاسو سره خبرې وکړي کوم چې لولئ..

**روحاني وده**

ځومره د خلکو څخه داخبره اورو چې وایي: ((هغه هلک ته وګورئ. ورځ په ورځ د خپل پلار په څیر کیږي.)) اولادونه چې ځومره وده کوي او لوئیږي په هماغه اندازه خپل مور او پلار ته ورته والی او مشابهت پیدا کوي. مګر ستاسو په هکله څنګه؟ آیا تاسوهم د هرې ورځې په تېرېدو سره د خپل آسماني پلار په څېر کیږئ؟ که چیرې روح القدس ته دا اجازه ورکړئ چې هره ورځ ستاسو لارښودنه وکړي نو د روحانی پلوه به ترقي وکړئ. نور خلک به هم وکولی شي چې دغه ځانګړې ښېګڼې چې هره ورځ تاسو د آسماني پلار په شان جوړوي، په تاسو کښې وګوري. دغه صفات او ښېګڼې اکثراً د روح د مېوې په نامه یادیږي.

ګلتيان ۵: ۲۲-۲۳. "خو د خدای د روح ميوه مينه، خوشحالي، سلامتي، زغم، مهرباني، نيکي، ايمانداري، عاجزي او پرهېزګاري ده. د داسې کارونو يو شريعت هم مخالف نه دی."

کله چې تاسو ماشومان وئ نوکمزوري وئ او د نورو مرستې ته مو اړتيا درلوده. خو د ودې او لوئېدو په دوران کښې ورځ په ورځ قوي شوئ. ډيرې نوې تجربې مو حاصلې کړې او دا مو زده کړل چې هغه کارونه سرته ورسوئ چې پخوا مو د هغو د سرته رسولو توان نه درلود. خدای هم خپلو اولادونو ته په ډېرو روحاني تجربو سره هدايت ورکوي او د هغوی لارښوونه کوي. لکه برکتونه،ازمايښتونه او هغه کارونه چې بايد د خدای لپاره ترسره شي. دغه تجربې ستاسو په روحاني ودې کښې مرسته کوي.

د روح القدس تعميد يوه روحاني تجربه ده. خدای له خپلو ټولو اولادونو څخه غواړي چې دغه تجربه حاصله کړي. دې تجربې ته "د روح القدس څخه ډکيدل" هم وايي. په ياد ولرئ چې روح القدس هم د پلار خدای او مالک زوی (عيسی مسيح) په څېرد يو ماهيت څښتن دی او ددرې ګوني شخصيت (تثليث اقدس) دريم جز شمېرل کېږي. روح القدس غواړی تاسو داسې ډک کړي چې ټول بدن مو دخدای له طبيعت څخه ډک شي. د خدای د طبعيت څخه مقصد دهغه مينه او قدوسيت (سپېڅلتيا) دی. په دې خاطر کله چې تاسو له روح القدس څخه ډک شوئ نو د خدای له مينې او سپېڅلتيا څخه به هم ډک

شئ.

د اسفنج یوه ټوټه په نظر کښې ونیسئ. که چېرې تاسو هغه د اوبو په یو ډک لوښي کښې وردننه کړئ نو د خپل آخري ظرفیت په اندازه به اوبه جذب کړي. اوس نو دغه اسفنج وخوروئ، هغه وزبیښئ او وېې ټکوئ، نو څه به پېښ شي؟ یوازې هغه اوبه به ورڅخه توی شي چې دلوښي څخه یې جذب کړې وې. تاسو هم هغه اسفنج ته ورته یاست او عیسی مسیح غواړي چې تاسوته د روح القدس تعمید درکړي. هغه غواړي چې تاسو د ژوند په روح کښې غوټه کړي ترڅو ستاسو د بدن هره برخه د هغه د بدن ماهیت را جذب کړي. کله چې تاسو له روح څخه ډک یاست، نو کیدای شي چې ستونزې او مشکلات تاسو ته ټکان درکړي، کېدای شي چې خلک مو ووهي، خو د ژوند ټولې ستونزې او ناخوالې به یوازې هغه شی له تاسو څخه را بهر کوي د کوم څخه چې ډک شوي یاست یعنې د خدای د مینه او محبت.

جان. ال. شیریل چې د «هغوی چې په نورو ژبو خبرې کوي» د کتاب لیکوال دی، د خپل د روح القدس د تعمید په هکله یې داسې لیکلی دي: «د روح القدس د تعمید په شیبه کښې ماته یو ډول ډوبیدونکی حالت پیدا شو. ماپه هغه کښې غوټې ووهلې. دغه حالت زما ټول بدن ونیوه او په مینې سره یې ومینځلم...... مونږ تردې اندازې پورې د روح القدس قدرت ته نژدې یو ! خو زه دې نتیجې ته رسېدلی یم چې دهغه قدرت ماهیت په "محبت" کښې دی.»

د دې مقدس بدلون ټول اړخونه له مینې او محبت څخه پورته کېږي. کله چې ما په روح القدس کښې د تعمید ډېره لوړه تجربه ترلاسه کړه، زه په دې وپوهېدم چې پاک شوی یم، له سره جوړ شوی یم او شفا مې حاصله کړې ده. ما هغه کمال ترلاسه کړی دی چې پخوا مې حتی په خوب کښې هم نه لیده.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۱۲- ګلتیان ۵: ۲۲ او ۲۳ آیتونه له یاده زده کړئ.

۱۳- د خدای د ماهیت د هغو دوو مشخصو صفتونو نومونه واخلئ چې خلک یې باید د خدای په اولادونو کښې ولیدلی شي؟

## هغه ژوندون چې پکښې هدف نغښتی دی

تاسو ددې لپاره دنیا ته نه یئ راغلي چې د خپل ځان لپاره ژوند وکړئ. ستاسو د فیزیکي ژوندون هدف یوازې دا نه دی چې د خپل بدن ساتنه او پالنه وکړئ. او همدا شان ستاسو روحاني ژوندون فقط په دې نه محدود کېږي چې یوازې خپل روح ته پاملرنه ولرئ. تاسو ددې لپاره دنیا ته راغلي یاست ترڅو د خدای په لوی پلان کښې برخه ولرئ. هغه ستاسو لپاره یو ځانګړی پلان لري. چې تاسو په هغه کښې باید یو کار ترسره کړئ.

روح القدس ستاسو سره ملګرتیا کوي ترڅو دخدای په پلان

او نقشه کښې ځای ولرئ. هغه ته دا موقعه ورکړئ چې ستاسو لارښوونه وکړي ترڅو د ژوند په حقيقي هدف او معنی باندې پوه شئ. هغه ستاسو د مرګ او ژوند لپاره يو ارزښتناک دليل وړاندې کوي. دا دليل هم هغه عيسی مسيح دی. روح القدس ددوو لارو څخه تاسو د عيسی مسيح شاهدان جوړوي. لومړی ستاسو د بدل شوي ژوند له لارې او دوهم د هغو خبرو له لارې چې ستاسو له خولې څخه وزي. روح القدس تاسو د يوې داسې لارې او منزل په لورې رهبري کوي چې آسمان ته رسيږي. او تاسو سره مرسته کوي چې نوروته هم بلنه ورکړئ چې ستاسو په آسمانی کورکښې تاسو سره يو ځای شي.

> د رسولانو عملونه۱: ۸. "خو تاسو ته به د روح القدس په نازليدو طاقت درکړای شي او تاسو به ... د دنيا تر بله سره زما شاهدان يئ".

**هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ**

۱۴- د روح القدس څخه له دې لپاره چې نازل شوی دی او ستاسو دوست او مرستندوی جوړ شوی دی مننه وکړئ.

**خپل جوابونه مقايسه کړئ**

۲- د خدای روح، د ژوند روح

۳- ايمانداران، لاسونه، روغ

۴- هو

۱۳- محبت، سپيڅلتيا يا قدوسيت (نورشيان هم کيدای

شي چې بيان کړئ).

دریم لوست

# روح القدس په دعا کې مرسته کوي

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ روح القدس ددعا طریقه تاسوته درښیئ
- ❖ روح القدس تاسو سره د خدای په عبادت کې مرسته کوي
- ❖ روح القدس تاسو سره په اقرارکولو کې مرسته کوي
- ❖ روح القدس تاسو ته درښیئ چې څه وغواړئ
- ❖ روح القدس ستاسو د زړونو له لارې دعا کوي

## ژوره ګتنه

دکاتولیک د زده کوونکو هغه ډله چې د روح القدس تعمید یې اخیستی ؤ داسې لیکلي دي: «په دعا کښې یوډول

تازګي او نوښت وجود درلود. داسې يوه تازګي چې زمونږ لپاره د ژور ايماني ژوند د پيل ښکارندوی ؤ. ... ځينو کسانو په ساعتونو دعا وکړه او هغه څه چې د هغو په دعاګانو کې ؤو هغه د خدای ستاينه او هغه ته جلال ورکول ؤو.»

«دعا زمونږ لپاره په يوې واقعي خوشالۍ بدله شوې وه. دخدای د محبت او مينې د حضور احساس دومره قوي ؤ چې په ياد مې دي چې پوره يو ساعت ناست ؤو او دډيرې خوښۍ څخه موخندل او خوشالي مو کوله.»

«زما ډيرې ښې او د خوشحالۍ ډکې شپې هغه وخت وې چې په دعا کې تيريدې. ما د هغې خوښۍ او خوشالۍ څخه اګاهي پيدا کوله چې دعا يې انسان ته ورکوي. د خدای ستاينه او د هغه عبادت يوداسې کار ؤ چې پخوا ما کله هم کړی نه ؤ. ما به هميشه هغه وخت دعا کوله چې د خدای څخه مې کومه غوښتنه درلوده او يا خدای زما کومه غوښتنه چې پوره کړې وه د هغې شکر به مې په دعا سره ادا کاوه. زما ددعا کولو يوازينی دليل دا ؤ چې يو ښه مسيحي د خپل ژوند لپاره او خدای تعالی ته د نژدې والي او خپلې بخښنې په خاطر بايد دعا وکړي. اوس د خدای پاک ستاينه او عبادت په رښتيا خوندور شوی ؤ. کله چې ما دعا کوله نو د ډېر نژدې والي احساس مې کاوه.»

«که چېرې مجبور شم چې د روح القدس د تعميد د هغې اغيزې په اړه خبرې وکړم چې زما په ژوندون کې يې درلوده، بايد په رېښتينې توګه اقرار وکړم چې په روح القدس کښې

تعمید، مسیحي توب زما لپاره د یوې عجیبه تجربې په شان ګرځولی دی. د روح القدس تعمید ماته د پلار خدای او په عیسی مسیح زوی په پیژندنه کې عجیبه خوند رابخښلی دی. نور زه هېڅ ویره نه لرم چې د روح القدس څخه لارښوونه، تسلي او قدرت وغواړم.))

## روح القدس د دعا طریقه تاسو ته درښیي

ستاسو په ژوندون کښې دعا کوم مقام لري؟ یوه وظیفه ده یا دا چې د خدای سره خبرې اترې کوئ او د هغې څخه خوند اخلئ؟ آیا کله چې دعا کوئ نو خدای له ځانه سره نږدې احساسوئ؟آیا دعاوې مو قبلیږي؟آیا غواړئ چې د خدای سره په دعا کښې یوځای کار وکړئ او د هغې حیرانوونکې نتیجې په خپلو سترګو وګورئ؟ تاسو داسې یو ملګری لرئ چې خلکوته د دعا په ښودنه کښې تخصص لري، ستاسو دغه ملګری هماغه روح القدس دی.

تاسو ولیدل چې روح القدس څرنګه تاسو ته خدای په واقعي توګه ښکاره کوي. کله چې روح القدس د خدای لویه مینه تاسو ته ښکاره کړي، نو تاسو د خدای سره د ډیرې ښې مینې د څرګندولو په ترڅ کښې غواړئ چې ډیر وخت دهغه سره په عبادت او دعا کښې تیر کړئ. تاسو پوهیږئ چې خدای تاسو او ستاسو مسئلو ته په درنه سترګه ګوري او ورته اهمیت ورکوي. نو په دې توګه کولای شئ چې په پوره ډاډ سره خپل ضرورتونه د خدای حضور ته وړاندې کړئ.

روح القدس تاسو ته دغه ایمان او باور در کوي چې د خدای څخه غوښتنه او سوال وکړئ، او پدې ډاډه اوسئ چې خدای هغه اورېدلي دي او هغه به قبول کړي. مقدس کتاب تاسو ته وايي چې د کوم شي د حاصلولو لپاره دعا وکړئ، په کومه طریقه دعا وکړئ، او دکومو نتیجو انتظار ولرئ. روح القدس تاسو ته د خدای وعدې رېښتینې کوي او تاسو سره مرسته کوي ترڅو ددغو وعدو غوښتنه وکړئ. دعا یعنې د خدای سره خبرې اترې دي. دغه خبرې کیدای شي چې د الفاظو په بڼه صورت ونیسي او هم ستاسو د خیالونو له لارې چې خدای ته په خاموشۍ کې مخ اړوئ. دغه خبرې اترې دوه اړخیزې دي. لکه څنګه چې خپلې غوښتنې د خدای لور ته وړاندې کوئ. باید په هماغه ډول د خدای غوښتنو ته هم غوږ ونیسئ. کله چې د خدای سره خبرې کوئ باید دغه درې ټکي په پام کښې ونیسئ.

۱- د خدای عبادت او ستاینه.

۲- په خپلو ګناهونو او خطاګانو باندې اقرار کول.

۳- دهغه څه درخواست چې د خدای څخه یې غواړئ.

په مسیحي ژوند کښې ستاسو دعا لکه د بایسکل په شان ده چې تاسو سره مرسته کوي چې په دې ژوند او د خدای په خدمت کې نور هم پرمخ لاړ شئ. که چیرې د دې بایسکل کومه برخه ماته شوې وي تاسونشی کولای چې په هغې باندې زیات وړاندې لاړشئ. که همداسې نه ده؟ روح القدس غواړي چې ستاسو د دعاګانو په هره برخه کښې ستاسو سره مرسته او

ملګرتیا وکړي.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۱- دعا څه شی دی؟

۲- هغه درې ټکي چې په دعا کښې د هغو مراعت کول ضروري دي ذکر کړئ. د دې دریو ټکو څخه چې په هر یو کې خپل ځان کمزوری ګورئ مخی ته یې د (×) نښه ورکړئ.

## روح القدس تاسو سره د خدای په عبادت کښې مرسته کوي

د خدای پرستش او ستاینه ستاسو په دعا ګانو کښې کومې برخې ځانته ځانګړې کړیدي؟ په عبادت کښې تاسو خپل هغه محبت چې د خدای سره یې لرئ بیانوئ. چې مینه نه وي نو رېښتینی عبادت هم نه وي موجود او ستاسو دعاګانې به ټولې عبث شي. روح القدس تاسو د خدای حضور ته ورولي او تاسو دې ته اړباسي ترڅو د خدای د مینی جواب په مینه ورکړئ. کله کله د یو سرود الفاظ ستاسو د زړه د مینې احساسات په ډیرې ښې طریقې سره بیانوي چې له همدې کبله خپله ژبه په سرود ویلو خلاصوئ. ځینې وخت د کلماتو په قالب او کله هم په خاموشۍ کښې د خدای د نیکیو ستاینه کوئ.

افسیان ۲: ۱۸. "ځکه د هغه په وسیله مونږ دواړه د یو روح په وسیله د پلار په حضور کښې حاضرېږو."

فیلیپیان ۳: ۳. "ځکه چې د خدای سنت شوي خو مونږ یو چې د خدای د روح په هدایت عبادت کوو او په عیسی مسیح فخر کوو او په جسم توکل نه لرو."

مشهور واعظ ((چارلزفینی)) په خپلو کتابونو کښې داسې لیکي: ((کله چې کوټې ته وردننه شوم او دروازه می په ځان پسې بنده کړه، مالک عیسی مسیح مې مخامخ ولید. هغه ما سره خبرې ونکړې مګر داسی یې راته وکتل چې زه یی په ګونډو کړم او د هغه پښو ته پریوتم. لکه د ماشوم په شان مې ژړل او خپله خوله مې په اقرار کولو پرانیستله... په بدن کښې مې اور بل شوی ؤ او داسې یې سیزلم لکه داور په خواکښې چې ناست اوسم. په روح کښې می غوټه ووهله او د روح القدس تعمید می واخیست. کلام په دې قادر نه دی چې هغه مینه او عجیبه محبت چې د بهر څخه زما په زړه کې رانوته په الفاظو کښې بیان کړي. له ډېرې خوښۍ او خوشالۍ څخه مې اوښکې په سترګو بهېدلې او ما ژړل.))

آیا تاسو هم غواړئ چې عبادت دې ستاسو د ورځیني ژوند یوه برخه جوړه شي؟ دغه کار د روح القدس په مرسته په دې لاندینیو پنځو طریقو سره لاس ته راځي.

۱- هره ورځ د زبور کتاب ولولئ. زبور تاسو سره د خدای په ستاینه کښې ډېره مرسته کوي.

۲- هغو دعا ګانو ته چې په مقدس کتاب کښې دي پاملرنه وکړئ. دغه دعاګانې هم کېدای شي چې ستاسو د دعا او

عبادت په وخت کښې تاسو ته یوه نمونه او سرمشق وي.

۳- ددعا په وخت کښې د هرې غوښتنې او سوال څخه مخکې د خدای عبادت وکړئ او هغه وستايئ.

زبور۱۰۰: ٤. "د خدای دروازو ته په ستاينې سره راشئ او د هغه انګړ ته د تسبيح په ويلو سره ننوزئ. د هغه ثنا او ستاينه وکړئ او د هغه پاک نوم ته درناوی وکړئ."

٤- د ستاينې او شکرګزارۍ سندرې ووايئ. هم په کورونو او هم په کليساګانو کښې خدای ته سندرې ووايئ. د هغو په الفاظو او معنی باندې ښه فکر وکړئ. حتی کېدای شي چې روح القدس تاسو ته د ستاينې يوه نوې سندره ډالۍ کړي ترڅو د هغې په وسيله وکولی شئ چې د خدای عبادت وکړئ.

افسيان ٥: ١٨-٢٠. "... په پاک روح باندې ډک شئ. او په خپلو کښې زبور، سندرې او روحاني غزلې وايئ، او په خپلو زړونو کښې د مالک سندرې او حمدونه وايئ. او په ټولو خبرو کښې زمونږ د مالک عيسی مسيح په نوم زمونږ د خدای پلار هر وخت شکر کوئ."

٥- د روح القدس څخه وغواړئ چې ستاسو سره مرسته وکړي. ډير هغه کسان چې د روح القدس څخه ډک شوي دي د نوې خوشحالۍ او آزادۍ څخه خبرې کوي چې د خدای په عبادت کښې ئې موندلې دي. روح القدس غواړي چې ستاسو سره

مرسته هم وکړي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳- د خدای شکر ادا کړئ چې روح القدس یې راولیږه ترڅو په عبادت کښې ستاسو سره مرسته وکړي. وروسته بیا د پنځو دقیقو لپاره پرته له دې چې له خدای څخه څه وغواړئ خپله ژبه دهغه د عبادت او ستاینې لپاره پرانیزئ او ورڅخه مننه وکړئ.

۴- زبور ۱٤٥ په لوړ آواز سره د خدای لپاره ولولئ. د خدای لپاره یوه روحاني سندره ووایئ.

۵- د هغو شیانو یو لست جوړ کړئ چې د هغو په سبب د خدای څخه شکر ګزاره یاست. او دهغو په خاطر د خدای څخه مننه وکړئ.

## روح القدس تاسو سره په اقرارکولو کښې مرسته کوي

ایا داسې کله پېښ شویدي چې احساس کړئ چې ستاسو ددعا ګانو مخې ته یو دیوال ولاړ دی او نه پرېږدي چې ستاسو دعاګانې خدای ته ورسیږي؟ روح القدس غواړي چې تاسو سره مرسته وکړي ترڅو د هغو ټولو شیانو له منګولو څخه خلاص شئ چې خدای ته ستاسو د دعاګانو د رسیدو خنډ ګرځي. یوه شیبه د هغه ماشوم په حالاتو او کارونو باندې فکر وکړئ چې د خپل پلار او مور د فرمان څخه یې سر غړونه کړې ده. آیا دغه

ماشوم د خپل پلار د ليدلو څخه خوشحاليږي؟ آيا د هغه د هر کلي لپاره به لاړ شي... يا دا چې هڅه کوي د هغه د سترګو څخه خپل ځان پټ وساتي؟ اوس که چيرې دا ماشوم د خپل پلار مرستې ته اړ شي، نو هغه غلطۍ چې هغه د خپل پلار په مقابل کښې کړېدي ددې خنډ ګرځي چې خپل پلار ته لاړشي او د مرستې غوښتنه ورڅخه وکړي. هغه بايد لومړی د خپل پلار په مخکښې د هغو غلطيو اقرار وکړي چې هغه کړ ي دي او له هغه څخه وغواړي چې د هغه ګناهونه معاف کړي او د نافرمانۍ څخه لاس واخلي. کله چې ماشوم دا کار وکړي نو هغه ته دا ډاډ پيدا شي چې پلار يې ورسره مينه لري او په هغه باندې ګران دی. اوس هغه کولای شي چې په ډاډه زړه د خپل پلار حضور ته د مرستې د غوښتنې لپاره لاړ شي.

همدا کار زمونږ او دخدای تر منځ هم واقع کيږي. مونږ اکثراً د خپلو ګناهونو په نسبت ړانده يو او هغه نه وينو. له همدې کبله روح القدس زمونږ سره د ګناهونو په ښکاره کولو کښې مرسته کوي. روح القدس مونږ ته د ګناه پليدوالی او نجاست را په ګوته کوي او مونږ سره مرسته کوي ترڅو د خدای په حضور کښې پخپلو ګناهونو او خطاګانو اقرار وکړو. که چيرې مونږ د بل چاپه حق کښې کومه غلطی کړې وي نومونږ ته وايي چې د هغه څخه هم بخښنه او معافي وغواړو او مونږ سره مرسته کوي ترڅو هغه کارونه چې د اوسني حالت د ښه والي او بهترۍ لپاره لازم دي سرته ورسوو. دغه کار حتی د مقدس کتاب د هماغو لومړنيو ورځو څخه راپېدې خوا د

ایماندارانو د روحاني ژوندون یوه برخه ګرځیدلې ده.

«جاناتان ګوفورت» په خپل کتاب «کله چې د روح القدس اور کره له منځه یوړه» کښې ډیرې زیاتې نمونې وړاندې کوي. څو میاشتې په پرله پسې توګه د "پریزبیتری" (هغه عیسوي ډله چې حکومت خپل حق ګڼي)او "میتودیست" (منظمه او نه اووښتونکې مسیحي څانګه چې په کال ۱۷۲۹م کښې د 'جان. او. چارلرویسلي' له خوا منځ ته راغله) زیري ورکوونکي د روحاني ژوندون د بیا رغونې لپاره لاس په دعا ؤو. په نتیجه کښې دغه ویښتیا او بیا رغونه منځ ته راغله او ترکلونو پورې یې دوام وموند او غښتلې او د روح څخه ډکې مسیحي کلیساګانې منځ ته راغلې. دغه نوښتونه د پینګ یانګ د کوچنیو کلیساګانو څخه پیل شول.

«په غونډه کښې ډیر کسان په ژړا شول او په خپلو ګناهونو یې اقرار وکړ. ښاغلی سوالن په دې عقیده ؤ چې تراوسه پورې له داسې یوې پیښې سره کله هم مخامخ شوی نه ؤ او اعلان یې وکړ چې یوه روحاني سندره ووایي. د هغې ورځې د غونډې مشري د سوالن په غاړه وه او هغه هڅه کوله دا ټول احساسات چې په خلکو کښې یې څپې وهلې په یو ډول تر کنترول لاندې راولي. څو ځلې یې هڅه وکړه مګر بریالی نه شو. سوالن هم د غونډې تر هیبت لاندی راغی. ځکه هغه درک کړه چې غونډه د بل چا له خوا اداره کېږي.

له دې پیښې څخه وروسته په پینګ یانګ کښې زمونږ کلیسا د یوې هفتې دعا په ترڅ کښې چې د هغې پیښې څخه

پس یې درلود د خاصو برکتونو په طمع ؤو، مګر داسې ښکارېده چې خدای د هغو دعاګانو ته ځواب نه ورکوي. د وروستۍ ورځې د لمر پرېوتو په وخت ۱۵۰۰ تنه د غونډې برخه وال د حیرانتیا څخه په خپلو ځایونو کې ټکان وخوړ، ځکه د کلیسا مشر (الدرکیل) په خپل ځای پورته شو او اعلان یې وکړ چې "خدای نه غواړي د هغې ګناه له کبله چې ما کړې ده تاسو ته برکت درکړي". هغه خپل یودوست سره چې د ځنکدن په حالت کښې ؤ دا ژمنه کړې وه چې د هغه د مرینې څخه وروسته به د هغه د جایداد سرپرستي کوي. مګر د دې کار په دوران کښې هغه ډېرې پیسې د ځان لپاره غلا کړې وې. الدر د خپلې دغې ګناه داقرار څخه وروسته وویل: "صبا سهار وختي به دغه دولت بیرته دهغه کونډې له وسپارم".

د دې اقرار څخه وروسته ټول خنډونه لېرې شول او قدوس خدای نزول وکړ. ټول د ګناه په سبب ملامته شول. هغه غونډه چې د یکشنبې د مازیګر په اوو بجو شروع شوې وه د دوشنبې د ورځې تر دوو بجو پورې یې دوام وموند. په دغه دوران کښې ډیر په ولاړه ودریدل او په ژړایې نوبت اخیستو ترڅو په خپلو ګناهونو اقرار او دهغې بخښنه وغواړي.

په څو میاشتو کې دعا په ډیر ښه شکل سره قبلیدله. ځکه چې روح القدس راکوز شوی ؤ او په نیمه ورځ کښې یې دومره کار ترسره کړ چې د دنیا ټول زیري رسوونکي او خادمین یې په شپږ میاشتو کښې نشو ترسره کولای. د دوه میاشتو څخه په کم وخت کښې د ۲۰۰۰ څخه زیاتو کسانو توبه وویستله او په

عیسی مسیح باندې یې ایمان راوړ.

د (۱۹۰۷م) کال په نیمايي کښې د پینګ یانګ په مرکزي کلیسا کښې دایمان راوړونکو شمیر ۳۰۰۰۰ تنو ته ورسید. ښکاره خبره ده چې ددې بیارغونې او د روحاني نوي ژوندون د نوښت اور تر (۱۹۱۰م) کال پورې بل پاتې شو ځکه د هغه کال په اکتوبر کښې ۴۰۰۰ تنو په یوه ورځ کښې د روح القدس تعمید واخیست.))

هغه څه چې پینګ یانګ کښې پېښ شول په دې پیړۍ کښې په مختلفو ډولونو سره د نړۍ په ډیرو زیاتو کلیساګانو کښې پیښ شوي دي. کله چې مسیحیان اجازه ورکوي ترڅو روح القدس د هغوی د بدنونو ژورې برخې وپلټي، نو روح القدس هغه خنډونه چې دروحانی ژوند د بیا را ژوندي کولو په لارې کښې پرتې دي ښکاره کوي. کله چې مسیحیان په خپلو ګناهونو اقرار کوي او دخدای او نورو انسانانو سره خپلې اړیکې رېښتنې کوي، خدای کولای شي چې هغوی د خپل جلال لپاره وکاروي، روحاني بیارغونه منځ ته راځي، دعاګانې قبلېږي او بدنونه خلاصون مومي.

دوهم تواریخ ۷: ۱۴. "او زما قوم چې زما په نوم نومول کېږي باید عاجزي ښکاره کړي، او ددعا په کولو سره زماد رضا او حضور غوښتونکي شي او د خپلو بدو لارو څخه راواوړي. نو بیا به زه په آسمان کښې هغو ته لبیك ووایم، او ګناهونه به یې وبخښم او په ځمکه به په هغوی سلامتیا او برکتو نه نازل

کړم.“

اول یوحنا ۱: ۸ او ۹. ”که چېرى مونږ دا ووايو چې بی ګناه يو نو مونږ خپل ځان غولوو او په مونږ کښې رښتيا نشته. که مونږ د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دى، او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړي او د هرقسم بدو څخه به مو پاک کړي.“

زبور ۱۹: ۱۳ او ۱۴. ”څوک دى چې په خپلو خطاګانو پوه شي. مادخپلو پټو ګناهونو څخه پاک کړه. زما د خولې خبرې او د زړه خيالونه دې ستا د قبول وړ وي، اى پاکه څښتنه چې زما ګټ او ژغورونکى يې.“

زبور ۱۳۹: ۲۳ او ۲۴. ”اى پاکه ربه ما وڅېړه او زما زړه وپيژنه. ما وآزمايه او ځماپه خيالونو او افکارو ځان پوه کړه، او وګوره چې آيا په ما کښې د فساد لارې شته؟ او ماد ابدي ژوندون په لارې کښې هدايت کړه.“

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۶- روح القدس د کوريا د پينګ يانګ ايماندارنو ته څه وروښودل: د هغوى راتلونکې، د هغوى هغه ښېګڼې او ځانګړتياوې چې درلودلې يې او يا د هغوى خطا ګانې؟

۷- زبور ۵۱ په غور سره ولولئ.

۸- دوهم تواريخ ۷: ۱۴ او زبور ۱۹: ۱۲ او ۱۴، ۱۳۹: ۲۳او ۲۴

ددوهم ځل لپاره ولولئ. دغه آیتونه د خدای حضور ته وړاندې کړئ او انتظار وکړئ چې روح القدس ستاسو ګناهونه درپه ګوته کړي. د هغه څخه د ملګرتیا او بخښنې غوښتنه وکړئ. هغه څه چې روح القدس یې غواړي سرته یې ورسوئ.

## روح القدس تاسو ته درښيي چې څه وغواړئ

روح القدس تاسو تشویقوي ترڅو خپل ضرورتونه د آسمانی پلار حضور ته وړاندې کړئ. هغه تاسوته درپه زړه کوي چې دنورو خلکو او د هغوی داړ تیاو او احتیاجاتو د پوره کولو لپاره هم دعا وکړئ. هغه تاسو ته دا ایمان درکوي ترڅو باور وکړئ، چې هر څه چې د خدای څخه وغواړئ نو تاسوته به یې درکړي.

رومیان ۸: ۱۵. "او کوم روح چې تاسو موندلی دی، هغه د غلامۍ هغه روح نه دی چې تاسو بیا وېروي، خو هغه روح دی کوم چې زمونږ څخه د خدای زامن جوړوي او مونږ ددې قابل کوي چې مونږ ووایو، "ابا" یعنې "ای پلاره!"

فیلیپیان ٤: ٦ . "د هیڅ خبرې فکر مه کوئ بلکه په هره خبره کښې تاسو درخواستونه ددعا او زارۍ په وسیلې د شکر ګزارۍ سره د خدای په حضور کښې پېش کړئ."

خو کله کله تاسو د خپلې اړتیا په اړه هم خبر نه یئ. ممکن

ستاسو غوښتنه یوه غلطه غوښتنه وي. مګر ستاسو دوست او ملګری روح القدس په همغه ځای کښې حاضردی ترڅو ستاسو په ذهن کښې داسې یوه غوښتنه ځای په ځای کړي چې هم تاسو ته او هم د نورو لپاره ګټوره وي.

خدای داسې اراده کړې ده چې ستاسو د دعا ګانو له لارې کار وکړي. کله چې کومه اړتیا منځ ته راځي نو خدای خپلو اولادونو ته وایي چې دعا وکړي. بیا د هغوی د دعا ګانو په ځواب کښې هغه څه چې لاژم دي هغه کوي. خدای په همدې توګه بدنونه ژغوري، روحاني نوښت منځ ته راوړي، ناروغانو ته شفا ورکوي، ستونزې او مشکلات له منځه وړي او ضرورتونه پوره کوي. خدای دا مسئولیت ستاسو په غاړه اچولی دی چې خپلې کورنۍ، دوستانو، کلیسا، هېواد او نړۍ ته دعا وکړئ. ستاسو دعا د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې د خدای د کار په څرنګوالي باندې اثر لري.

روح القدس ممکن تاسو ته اړ کړي ترڅو د یو خاص نفر لپاره پرته له دې چې د هغه له اړتیا څخه خبر اوسئ، دعا وکړئ. ښایي هغه په وژونکې ناروغۍ اخته وي. ښایي یو لوی خطر هغه تهدیدوي، شاید د یوې پلیدې وسوسې سره مخ شوی وي، او یا ښایي یو حیرانوونکي طاقت ته ضرورت لري ترڅو د خدای کار سرته ورسوي. ستاسې دعاګانې کیدای شي له هغه سره په دې کار کښې مرسته وکړي.

یو مسیحي چې «پورتلند وران» نومېده د خپلې کلیسا کشیش ته ورغی او هغه ته یې وویل: "نن ورځ یوه عجیبه پیښه

را باندې شویده. خدای ماسره خبرې وکړې او راته ویې ویل چې د یو سړي لپاره چې (آلوا والکر) نومیده او په افریقا کښې اوسیده دعا وکړم. ما تردې حده هغه ته دعا وکړه چې خدای زه ډاډه کړم چې دعا مې قبوله شوه. د نړۍ په بل ګوټ کښې یو زیری رسوونکی چې آلوا والکر نومیده د تورو اوبو د تبې د لاسه د مرګ په حالت کې ؤ. کله چې دغه ناپېژندل شوي دوست هغه ته دعا وکړه نو هغه په یو درونډ خوب ویده شو او کله چې پاڅېده نو حالت یې په ښه کېدو شو. د روح القدس څخه د یونفر د فرمانبردارۍ په سبب ددغه زیري رسوونکي ژوند وژغورل شو.

افسیان ٦: ١٨. "او هر وخت په هر شان په روح القدس کښې دعا کوئ او زاری کوئ، او د دې د پاره بیدار اوسئ او د ټولو پاکانو لپاره بې له کومې ځنډ څخه دعا کوئ."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

٩- فیلیپیان ٤: ٦ او افسیان ٦: ١٨ له یاده زده کړئ.

١٠- د نورو هغو کسانو لپاره هم چې دغه کتاب مطالعه کوي دعا وکړئ. همدا راز د خپلو هغو ملګرو او خپلوانو لپاره چې د عیسی مسیح د پېژندلو او د هغه خلاصون ته اړتیا لري هم دعا وکړئ.

## روح القدس ستاسو د زړونو له لارې دعا کوي

روح القدس ستاسو او ستاسو د ژبو له لارې په هغه احساس سره دعا کوي چې ستاسو د طبيعي وس او طاقت څخه بهر دی. دا دعا ممکن دداسې حاجت لپاره وي چې په هماغه شېبه کښې يې احساسوئ. يا ممکن د يوداسې ضرورت لپاره وي چې کله روح القدس ستاسو خيالونه او احساسات رهبري کوي، تاسو له هغه څخه خبروي. دغه دعا ستاسو د وجود د ژورو څخه په پوره شوق او ذوق راوباسي. روح القدس ستاسو د شخصي ضرورتونو د پوره کولو او دنورو د احتياجونو دپوره کولو لپاره د خدای پرورګاندې زارۍ او ننواتې کوي.

ددعا پر وخت کښې ښايي يو دروند بار په خپل زړه کښې احساس کړئ چې نه پوهيږئ هغه څه شی دی. روح القدس ممکن ستاسو د اړتيا لپاره ستاسو له لارې په ژړا سره دعا وکړي، هغه اړتيا چې تاسو هغه احساسوئ مګر د هغې د بيانولو توان نه لرئ.

عبرانيان ۵: ۷. "څه وخت چې عيسی په مزکه ژوند تيراوه نو هغه په زوره زوره چغې کړې او اوښکې يې بهېدلې، خدای ته يې دعاګانې او زارۍ وکړې چا چې هغه له مرګه ژغورلی شو، او د خدای ترسۍ او د ځان وقف کولو په سبب خدای د هغه واورېد."

روميان ۸: ۲۶_ ۲۷. "روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتياو کښې مرسته کوي. مونږ ته دا هم نه ده معلومه چې څنګه دعا کول په کاردي خو

روح القدس په اسویلو زمونږ شفاعت کوي چې په لفظونو کښې نه شي بیان کېدلی. او خدای چې زمونږ د زړونو لیدونکی دی، هغه ته دا معلومه ده چې ددې روح القدس خیال څه دی ځکه چې هغه د خدای د خلکو لپاره د خدای د رضا په مطابق شفاعت کوي."

کله کله روح القدس ممکن ستاسو له لارې په داسې یوه ژبه دعا وکړي چې یوازې هغه او خدای ورباندې پوهیږی او تاسو ورباندې نه پوهیږئ. پولوس رسول دا په ژبو باندې د دعا په نامه یادوي Glossalatia. په ځینو ځایونو کښې دغه مطلب په (عجیبه او ناآشنا آوازونو) هم ترجمه شوی دی ځکه هره ژبه چې مونږ ورباندې نه پوهیږو زمونږ لپاره د عجیبه او نا آشنا آوازونو په شان ده.

روح القدس ستاسو له لارې د هغو مسئلو د جزئیاتو لپاره هم دعا کوي چې تاسو د هغو پوهېدلو ته اړتیا نلرئ. روح القدس په هغه شیطاني قوتونو چې ستاسو ددعا په مخ کښې خنډ واقع کیږي غلبه او قدرت مومي. هغه د فتحې او برې اعلان کوي او د دعا د قبلېدو په خاطر د خدای ثنا او صفت په ځای کوي.

روح القدس هغه محبت چې تاسو نه پوهېږئ هغه څه رقم بیان کړئ، هغه حاجت چې ستاسو په وجود باندې دروندوالی راوستی دی ، هغه ستاینه چې ستاسو ټول وجود یې نیولی دی، په آسماني ژبه د خدای حضور ته وړاندې کوي. پولس

رسول د قرنتس کلیسا ته داسې تعلیم ورکړ چې روح القدس ته اجازه ورکول چې د هغو له لارې په روحاني ژبو کښې دعا وکړي، یو مهم کار دی. مګر دا کار د هغوی مسئولیت چې په خپلو ژبو باندې چې ورباندې پوهېږي دعا وکړي، نه رفع کوي. د دعا دواړه اړخونه ضروري دي.

اول کورنتیان ۱٤: ۲ او ۱٤-۱٦. "ځوک چې په روحاني ژبه کښې خبرې کوي نو هغه د خلکو سره نه بلکه دخدای سره خبرې کوي. ځکه چې ځوک د هغه په خبره نه پوهیږي اګر که هغه د روح په وسیله د راز خبرې کوي..ددې دپاره که زه په دعا کښې همدغه شان ژبه استعمالوم نو زما روح خو دعا کوي خو زما عقل په کښې کوم رول نه لري. نو بیا څه کول په کار دي؟ زه به په روح کښې هم دعا غواړم او په عقل کښې به هم دعا کوم، زه به په روح کښې هم د ثنا سندرې وایم او په عقل کښې به هم."

یعقوب ۵: ۱٦. "د یو بل لپاره دعا وکړئ."

خدای له خپل ځان سره د ګډکار او ددې ګډکار د ښېګڼو څخه د خوند اخیستلو درخواست تاسو له هم وړاندې کوي. روح القدس ته دا موقعه ورکړئ چې ستاسو لارښوونه وکړي، ددعا طریقه تاسو ته زده کړي او ستاسو له لارې دعا وکړي. ددې خدمت په قبلولو کښې به تاسو وګورئ چې ستاسو دعاګانې په حیرانوونکې توګه د خدای په دربار کښې قبلیږي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱۱- روميان ۸: ۲۶_۲۷ له ياده زده کړئ. آيا غواړئ چې روح القدس ستاسو له لارې دعا وکړي؟ نو په دې اړه له هغه سره خبرې وکړئ.

۱۲- آيا ددعا د خدمت غوښتونکي ياست؟ تاسو کولی شئ چې سر له همدې شپې څخه دغه خدمت پيل کړئ. د روح القدس څخه وغواړئ چې تاسو په خپل هدايت او لارښوونې سره بېدار او هوښيار کړي. دوخت څخه په ګټې اخيستلو سره په کور او کليسا کښې دعا وکړئ. که چيرې ممکن وي نو د خپلو ځينو هغو دوستانو سره يوځای شئ او له هغو سره په ګډه دعا وکړئ کوم چې روح القدس ته يې اجازه ورکړې ده چې د هغو له لارې دعا وکړي. د هغو زرګونو خلکو لپاره دعا وکړئ چې د "نوي ژوندون" د سلسلې شامل کتابونه لولي او له خدای څخه وغواړئ چې د مرسته کوونکو مالي مرستي دومره وي چې ددې کتابونو چاپول دوام ومومي.

۱۳- اوس چې د لومړنيو درې درسونو لوستل مو بشپړ کړل نو دې ته تيار شوي يئ چې د سوالونو د کتابچې لمړۍ برخې ته جواب ووائئ. داول لوست څخه تر دريم لوست پورې يو وار بيا تکرار کړئ. بيا د سوالونو د کتابچې د لارښوونو مطابق خپل جوابونه وليکئ او خپل ښوونکي ته يې وسپارئ.

## خپل جوابونه مقايسه کړئ

۱- له خدای سره خبرې اترې.

۲- عبادت او ستاینه

اقرار

درخواست

٦- د هغوی خطا ګانې.

## ځلورم لوست

# روح القدس ستاسو لارښوونه کوي

**هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ**

- ❖ تاسو یو ملګری لرئ چې ستاسو لارښوونه کوي
- ❖ روح القدس د خدای د کلام په وسیله ستاسو لارښوونه کوي
- ❖ روح القدس د کلیسا له لارې ستاسو لارښوونه کوي
- ❖ روح القدس د روحاني نعمتونو په وسیله ستاسو لارښوونه کوي
- ❖ روح القدس د خوبونو او رویاګانو له لارې ستاسو لارښوونه کوي
- ❖ روح القدس د شرایطو او احساساتو په وسیله

## ستاسو لارښوونه کوي

### ژوره ګتنه

پولوس رسول ګلتیانو ته ولیکل: "که چېرې مونږ د خدای د روح په وسیله ژوندي یو نو د خدای د روح په مطابق ژوند تېرول هم پکار دي" (ګلتیان ۵: ۲۵).

د کورنت ایمانداران د روح القدس څخه ډک ؤو مګر ددې مسئولیت په پوهیدلو کښې چې د روح د لارښوونې سره سم عمل وکړي، پاتي راغلي ؤو. له همدې کبله پولوس هغوی ته یو خواشینووکی مطلب څرګندوي او وايي:"تاسو تر اوسه هم جسم پرست او دنیادار یئ ...او د جسماني خواهشاتو په مطابق رفتار کوئ" (اول کورنتیان ۳: ۳).

دا مهمه نه ده چې یو مسیحي له خدای څخه څومره نعمتونه ترلاسه کړیدي، ځکه دا نعمتونه تر هغې پورې ګټهور نه دي ترڅو هغه کس د خدای د لارښوونې په مطابق عمل ونه کړي. د بېلګې په توګه، روح القدس نازلېږي ترڅو مؤمن خلک د رېښتینولۍ طرف ته رهنمایي کړي. مګر څنګه کولای شي چې دغه خدمت د هغه مؤمن په ژوند کې ترسره کړي چې د حقیقت او رېښتینولۍ کلام (مقدس کتاب) نه مطالعه کوي؟

روح القدس د دې لپاره راځي (اعمال ۱: ۸) ترڅو مونږ ته قوت راکړي چې د عیسی مسیح شاهدان شو. مګر څنګه کولای شي چې هغه کس ته د شهادت ورکولو قدرت ورکړي چې هغه

نه غواړي شهادت ورکړي؟ بیاهم روح القدس دې ته تیاردی چې د مسیحي فرد په ژوند کښې په خاصه توګهٔ ددعا په برخه کښې له هغه سره مرسته وکړي. مګر څنګه کولای شي چې خپل دا کار ترسره کړي چې تعمید شوی ایماندار دعا ونکړي او یا د خپلې دعا په ترڅ کښې د روح القدس په مقابل کښې بې پروا وي.

د خدای ټول نعمتونه د انسان د سرښندنې په بدل کې په یوځل هغه ته ورکول کېږي... مګر د روح القدس ثمره یوازی په هغه چا کښې لیدل کیږي چې د روح القدس د لارښوونې سره سم عمل وکړي او هره ورځ خپل جسم دالهي ورکړو او پیرزوینو تر څارنې او فرمان لاندې ساتي. نوبیا د روح د لارښوونو سره سم عمل وکړئ.

## تاسو یو ملګری لرئ چې ستاسو لارښوونه کوي

څوځله تاسو له خپلو دوستانو څخه دا پوښتنه کړې ده چې «ستاسو په نظر زه باید څه وکړم؟» ځینې خلک حتی په دې اړه فالبینانو اوغیب ویونکو نجومیانو ته ځي. مګر تاسو د یو نجومي څخه اوچت شخص لرئ! تاسو یوداسې ملګری لرئ چې دراتلونکي په هکله پوهېږي. هغه پدې پوهیږي چې کوم شی تاسوته ګټهور دی. هغه ستاسو سره مینه لري او غواړي ستاسو په ټولو تصمیمونو کې تاسو ته لارښوونه وکړي. دا ملګری روح القدس دی، ستاسو مرستندوی ملګری.

ګلتیان ۵: ۱۶ او ۲۵."مطلب دا دی چې تاسو د خدای د روح په ښودلې لار روان یئ.. که چېرې مونږ د خدای د روح په وسیله ژوندي یو نو د خدای د روح په مطابق ژوند تېرول هم پکار دی."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۱- ګلتیان ۵: ۱۶ او ۲۵ له یاده زده کړئ.

## روح القدس د خدای د کلام په وسیله ستاسو لارښوونه کوي

روح القدس د هغې لارې نقشه ده چې آسمان ته رسېږي او روح القدس آسمان ته ستاسو په لارښودنې کښې ورڅخه استفاده کوي. روح القدس ورځ په ورځ تاسو سره مرسته کوي ترڅو د خدای د کلام د لارښوونو څخه په هغو شرایطو کښې کار واخلئ چې تاسو ته پېښېږي. نوله همدې کبله دا لاژمه ده چې هره ورځ مقدس کتاب ولولو.

ځینې وختونه روح القدس د خاصو آیتونو څخه استفاده کوي ترڅو زمونږ سره خبرې وکړي. زیاتره مسیحیانو دا شهادت ورکړی دی چې، «دیوې سختې ستونزې سره مخامخ شوی وم او نه پوهېدم چې څه وکړم. نو د مقدس کتاب د لوستلو په دوران کښې یو آیت د نورو څخه ماته مهم ښکاره شو. په دغه آیت کښې په دقیقه توګه هغه څه بیان شوي ؤو چې ما ورته اړتیا درلوده. د دې آیت په وسیله زما ستونزه هواره شوه.»

هغه آیتونه چې له یاده یې زده کوئ روح القدس ته دا زمینه مساعدوي چې په آسانۍ سره ستاسو لارښودنه وکړي. کله چې دې آیتونو ته ضرورت پیدا کوئ روح القدس یې ستاسو ذهن ته راولي. که چېرې تاسو د یو داسې کار د سرته رسولو په وسوسه کې راګیر شئ چې باید هغه سرته ونه رسوئ، نو دغه آیت به لکه د آسمان د برېښنا په شان ستاسو په ذهن کې وځلېږي او تاسو به د هغه کار د سرته رسولو څخه منع کوي. «ای خدایه ته خو ما وینې» روح القدس د مقدس کتاب دغه آیت د ډېرو مسیحیانو ذهن ته راوستی دی او د هغه ناوړه عمل د ترسره کولو په موقعه یې هغوی له وسوسې څخه ژغورلي دي.

زبور ۱۱۹: ۹. "په څه شي په یو ځوان سړی ځان پاک ساتي؟ ستاد کلام په مطابق په ژوند تیرولو سره او دهغې د لارښونو په مطابق په عمل کولو سره."

روح القدس د مقدس کتاب د لارښوونو له لارې هم تاسو سره خبرې کوي. دا کار ممکن د هغه وعظ اوتعلیم د اورېدلو او یا لوستلو له لارې ترسره شي چې تاسو یې د کلیسا، رادیو، د مقدس کتاب د صنفونو، د مسیحي ادبیاتو او یا لکه د همدې کتاب په شان د درسي کتابونو د لوستلو له لارې تر لاسه کوئ. ځکه دا هغه لارې دي چې د خدای اراده شوې ده چې د همدې لارو په وسیله تاسو دپوره حقیقت او رېښتینولۍ لور ته رهنمایي کړي. یوحنا ۱۶: ۱۳ په یاد راوړئ.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۱- یوحنا ۱۶: ۱۳ په تکرار سره ولولئ او هغه له یاده زده کړئ.

۲- زبور ۱۱۹: ۹ له یاده زده کړئ.

## روح القدس د کلیسا له لارې ستاسو لارښوونه کوي

یو ماشوم په لاره تګ، خبرې کول، منډې وهل، لوبې کول او بالاخره کارکول څرنګه زده کوي؟ د خپلې کورنۍ څخه یې زدکوي! پلار، مور، ورونه، خویندې ټول ماشوم ته ددې کارونو د څرنګوالي او سرته رسولو ښودنه کوي.

کله چې مو نوې زیږیدنه حاصله کړه نو روح القدس تاسوته دخدای په کورنۍ کې غړیتوب درکړ. په دې معنی چې د مالک عیسی مسیح د کلیسا غړي شوئ. اوس نو خدای له تاسو څخه دا طمع لري چې ټولې هغه مرستې قبولې کړئ چې ستاسو مسیحی ورونه او خویندې یې تاسو سره کوي. کله چې په یوې محلي کلیسا کښې د ځان لپاره ځای پیدا کوئ ډیری زیاتې لارښوونې، زده کړې او مرستې به ترلاسه کړئ. په دې باور ولرئ چې یوازینی ځای کلیسا ده چې مقدس کتاب خپل ملګری او دوست ګڼي او په هغه باندې باور لري، دهغې د لارښوونو پیروي او فرمانبرداري کوي، خلکو ته د هغې ښودنه او زده کړه ورکوي او هم د روح القدس کار قبلوي.

مسیح په کلیسا کښې رهبران، زیري ورکوونکي، واعظان، کشیشان او نور خادمان مقرر کړیدي. روح القدس

دهغوی د پاره ځانګړي نعمتونه او تحفې برابرې کړيدي ترڅو دوی وکولی شي خپل کارونه په سمه توګه ترسره کړي.

افسيان ٤: ١٢. "د دې دپاره چې د خدای خلک د خدمت لپاره تيار شي او د مسيح بدن په مونږ کې وده ومومي."

د کليسا هر غړی بايد د روح څخه ډک وي. په داسې حال کې چې هم رهبران او هم د کليسا غړي د روح القدس په وسيله هدايت کيږي، ټوله کليسا کولی شي په پوره اتفاق او يووالي سره کار وکړي. پدې صورت کښې هر يو غړی کولی شي خپله ونډه د خدای په نقشه او پلان کښې په اغيزمنه توګه سرته ورسوي.

**هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ**

٤- د خپلې کليسا د کشيش او نورو مشرانو لپاره دعا وکړئ چې هميشه د روح القدس څخه ډک وي.

## روح القدس د روحاني نعمتونو په وسيله ستاسو لارښوونه کوي

روح القدس د هر مسيحی لپاره روحاني نعمت لري. هغه غواړي چې مونږ دغه نعمت ترلاسه کړو ترڅو وکولی شو له يوبل سره مرسته وکړو.

اول کورنتيان ١٢: ٤ او ٧. "نعمتونه خو قسم قسم

دي مګر روح یو دی... هر چا ته د روح القدس ظاهریدل د ټولو خلکو د فایدې لپاره ورکړی کېږي."

مخکې مو د ایمان، معجزو او شفا په نعمتونو باندې بحث وکړ. اوس به د روح القدس په نورو مافوق عجیبه نعمتونو باندې بحث وکړو.

اول کورنتیان ۱۲: ۸ او۱۰. "ځکه چې یو ته د روح په وسیله د حکمت کلام ورکړی شي او بل ته د هماغه روح په وسیله د علمیت کلام، چاته د هغه روح په وسیله ایمان او چا ته هم د هغه روح په وسیله د شفا ورکولو توان، چا ته د معجزو طاقت چا ته نبوت، چا ته د مختلفو روحونو پېژندل، چا ته د ډول ډول ژبو ویلو توان او چا ته د ژبو تشریح کول."

روح القدس ممکن د حکمت او پوهې هغه پیغام چې تاسو ورته اړتیا لرئ یو بل کشیش یا مسیحي ته چې د روح څخه ډک دی ورکړي. یا کېدای شي دغه پیغام په مستقیمه توګه دیو ژور تاثیر په نتیجه کښې د ناڅاپي بصیرت او پوهې سره د خدای له طرفه راشي. تاسو به په یوې داسې ناڅاپي موقعې کښې ووینئ چې دیو خاص موقعیت لپاره د خدای اراده څه ده. د هغه څه مکاشفه چې د مقدس کتاب په متن کښې بیان شویده، یا دهغې د عملي کولو څرنګوالی به د هغې ستونزې په موقعه ستاسو ذهن ته راشي چې تاسو ورباندې اخته یئ. خدای به ټول هغه الفاظ چې تاسو د یو بل کس د مرستې لپاره

ورته اړتیا لرئ، د خپل روح په وسیله تاسو ته ډالۍ کوي.

کله چې تاسو د خلکو سره د خدای په هکله خبرې کوئ او یا د مقدس کتاب څخه دیو درس تعلیم ورکوئ نو د روح القدس دې لاربنوونې ته ضرورت لرئ. مور او پلار د حکمت کلام ته اړتیا لري چې خدای یې هغوی ته ورکړي او هغوی هم وکولی شي چې خپلو اولادونو ته په صحیح طریقه روزنه او نصیحت وکړي.د روح القدس دنده یوازې د ستونزو او بحرانونو د دوران لپاره نده بلکه د هغه کار هره ورځ زمونږ په ژوندون کښې عملي کېدونکی دی.

افسیان ۱: ۱۷ .”او د حکمت روح دې تاسو ته درکړي.“

خروج ۳۵: ۳۱. ”او هغه یې د خدای له روح څخه ډک کړی دی او ورته یې حکمت، پوهه او وړتیا ورکړې ده.“

نبوت، ژبې او د ژبو ترجمه داسې لارې دي چې روح القدس د هغې په وسیله له یوې ډلې سره خبرې کوي. نبوت د خدای پیغام دی چې د ویونکي له خولې څخه راوزي. دا پیغام ممکن داسې یو شی وي چې په راتلونکي کې پېښ شي. دا پیغام کېدای شي د اورېدونکي لپاره د تسلۍ او لاربنوونې پیغام وي. ځینې وختونه د خدای پیغام اول په ژبه کې راځي او وروسته بیا ترجمه کېږي. دغه دواړه نعمتونه له یوبل سره د

نبوت د نعمت په شان دي.

ځيني خلک د هغو مطالبو په سبب چې د درواغو پيغامونو او کلامونو څخه ئې اوريدلي دي ددې نعمتونو او ورکړو څخه په ويره کښې دي. دا په دې معنی ده چې تاسو د پېسو له اخيستلو څخه په دې دليل ډډه وکړئ چې ښايي نوټونه يې جعلي وي. شيطان هميشه هڅه کوي چې خلک د خدای د کارونو په تقليد کښې وارخطا کړي. هم د مقدس کتاب په دوران کې او هم په اوسنۍ زمانه کښې هميشه دروغجن او کاذب نبيان موجود ؤو او دي. خو ستاسو دوست روح القدس دا نه غواړي چې تاسو د هغه په نعمتونو باندې شک وکړئ او هغه د جعلي توب له ويرې رد کړئ.

خدای نه غواړي چې تاسو د هغو تقليدونو په وسيله چې د هغه له کارونو څخه شويدي وغولېږئ. له همدې کبله د روح القدس د نعمتونو څخه يو د "روحونو پېژندنه" ده. د روح پيژندنه کليسا د بدو روحونو د کارونو او د خلکو د غلطو عقيدو څخه په امن کښې ساتي. ځينې وخت خلک په غلطۍ سره خپلې عقيدې په الهي کشفياتو کښې شميري. ځينې کسان د داسې پيغامونو په ورکولو سره چې دچا سره واده وکړي، چيرې لاړشي او يا څه بايد وکړي د ډيرو خطرناکو او ويرونکو عواقبو د منځ ته راوړلو سبب شويدي. له همدی کبله خدای فرمايي چې ټول پيغامونه وآزمايئ.

اول تسالونيکيان ۵: ۱۹-۲۲. "د روح القدس د اثر د

لېږې کولو کوشش مه کوئ. د نبوتونو سپکاوی مه
کوئ. ټولې خبرې آزمايئ او چې کومې خبرې ښې
وي هغه راټينګوئ. د هر قسم بدۍ څخه ځان ساتئ.“

هغه پيغام چې د روح القدس له خوا وي بايد دا لاندينې معيارونه ولري.

۱- د روح القدس پيغام بايد د خدای د کلام سره په پوره توګه مطابقت ولري.

د مثال په توګه دغه پيغام چې سړی بايد د بل چا ښځه په زوره وکړي، نشی کيدای چې د روح القدس پيغام شي. ځکه روح القدس پدې خاطر راغلی دی چې د خدای د فرمانبردارۍ په کار کښې زمونږ سره مرسته او ملګرتيا وکړي، نه دا چې ووايي چې هغه عمل ترسره کړو چې د خدای له خوا منع شوی دی. د خدای د کلام سره د روح القدس د پيغام يوشان والی او مطابقت ډير مهم کار دی. او هرشی بايد د خدای د کلام سره مقايسه او وسنجول شي.

۲- د روح پيغام بايد حقيقت ولري او په پوره توګه ريښتينی وي. که چيرې هغه څه چې په پيغام کښې راځي حقيقت ونلري نو د روح القدس پيغام نه دی. ځکه هغه د حقيقت او ريښتينولۍ روح دی. نوپيغام يې هم بايد ريښتينی وي. او هغه نبوتونه چې د خدای له طرفه وي هغو ته د عمل جامه ور واغوندي.

ارمیا ۲۸: ۹ "... د یو نبي خبرې هغه وخت ثابتیږي چې د خدای له طرفه وي چې د هغه نبوتونه په عمل کې ښکاره شي."

تثنیه ۱۸: ۲۱ ا و۲۲. "که چیرې په خپل زړه کښې ووائې هغه خبره چې خدای نه وي کړی څرنګه به یې معلومه کړم. هغه وخت چې یو نبي د خدای په نوم یوه خبره وکړي او بیا هغه حقیقت ونلري او هغه کار ونشي نو دا هغه خبره ده چې خدای نده بیان کړې بلکه هغه نبي د خپل کبر او غرور څخه دغه خبره کړې ده."

۳- د روح القدس پیغام عیسی مسیح ته جلال ورکوي.

یوحنا ۱۹: ۱٤. "هغه به زما جلال ښکاره کوي."

اول کورنتیان ۱۲: ۳. "په دې سبب به زه ضرور په تاسو تاکید وکړم چې هرڅوک چې د روح القدس په وسیله خبرې کوي، هغه به په عیسی لعنت ونه وایي او بغییر د روح القدس د وسیلې څخه هېڅوک نشي ویلی چې عیسی مالک دی."

٤- د روح القدس پیغام برکت منځ ته راوړي نه ګډوډي.

اول کورنتیان ۱٤: ۳-٤."خو څوک چې د خدای کلام اوري هغه د خلکو سره د آبادۍ او نصیحت او تسلۍ خبرې کوي. څوک چې په روحاني ژبه کښې خبرې کوي

هغه د خپل ځان ترقي کوي او څوک چې نبوت کوي هغه د جماعت ترقي کوي."

۵- هغه څوک چې د روح پیغام راوړي باید آګاهي او د مسئولیت ولري چې هر کار د یوخاص نظم او ترتیب سره سرته ورسوي. شیطان هم د روح القدس د کار تقلید کوي. کله چې یو نفر د پېریانو او خبیثه ارواح ګانو تر حملې لاندې راځي د هغه له خولې څخه داسې خبرې راوزي چې هغه وربانديې نه پوهېږي. مګر کله چې روح القدس د یو شخص له لارې پیغام ورکوي نو دغه کار دهغه شخص په مرسته په پوره خبرتیا او بیدارۍ سره سرته رسوي. او دغه پیغام رسوونکی ددې قدرت لري چې خبرې وکړي او که چېرې هغه دا کار مناسب نه ګڼي کولی شي چې چپ پاتې شي ترڅو د هغه پیغام لپاره چې خدای یې د کلیسا نورو ښوونکو او زیري رسوونکو ته ورکړی دی ستونزه او خنډ ایجاد نکړي. پولوس رسول دغه مطلب په روښانه توګه کورنتیانو ته په لومړي خط دولسم باب کښې بیان کړیدی. د کلیسا کشیش باید نور غړي دې ته تشویق کړي ترڅو د روح القدس له نعمتونو څخه استفاده وکړي. او په عین حال کې ددې مسئولیت هم لري چې ددې نعمتونو د منظم او بې جنجاله تطبیق څخه څارنه وکړي. له همدې کبله هغه کسان چې د روح القدس د نعمتونو څخه برخمند دي باید د کلیسا د مشرانو لارښوونو ته غاړه کېږدي او د هغوی د زړه کړو او نصیحتونو څخه مخ وانهړوي.

اول کورنتیان ۱۴: ۳۲ او ۳۳ او ۴۰. "ځوک چې د نبي په شان کلام کوي هغوی دې خپل ځان په کنترول کښې وساتي. ځکه چې خدای د بې نظمۍ نه بلکه د امن بنسټ ایښودونکی دی. ټولې خبرې په ورتیا او ترتیب سره کوئ."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۵- اول تسالونیکیان ۵: ۱۹ او ۲۲ له یاده زده کړئ.

۶- هغه پنځه معیارونه چې د یو پیغام د صحیح والي او ریښتینولۍ د معلومولو لپاره کارول کیږي چې آیا هغه د خدای له خوا دي او که نه، له یاده زده کړئ.

## روح القدس د خوبونو او رویاګانو له لارې ستاسو لارښوونه کوي

په مقدس کتاب کښې یقیناً له داسې پېښو او حالتونو سره مخامخ شوې یئ چې خدای د خلکو سره د خوبونو او رویا ګانو له لارې خبرې کړې وي. روح القدس هم نن ورځ په همدې طریقه د خلکو سره خبرې کوي. هغه پېش بیني چې یوئیل نبي کړې وه اوس د پوره کیدو په حال کښې ده.

اعمال ۲: ۱۷. "په آخرو ورځو کې به داسې کیږي چې زه به خپل روح په هریو کس نازلوم او ستاسو زامن او لوڼه به نبوت کوي، ستاسو ځوانان به رویا په سترګو ویني او سپینږیري به خوبونه."

په کال ۱۹۴۰ میلادی کښې ”بي، تي، سارد“ په پیکینګ کښې د روح القدس د نازلېدو په اړه ډېر په زړه پورې مطالب بیان کړل : ”په چین کښې په خطاګانو او ګناهونو اقرار، په مختلفو ژبو پیغامونه او د هغې ترجمه، نبوتونه، روحاني خوبونه، د عیسی مسیح او د جلال د مکان آسمانی رویاګانې، الهی شفا او د ټولو څخه مهمه ددعا او ستاینې قوي روح موجود دی.

(کائو چوجو) په حقیقت کښې د خدای حضور ته لیواله وه مګر ویره یې لرله چې خپل ځان خلکوته ښکاره کړي او یا چاته اجازه ورکړي چې په هغې لاس کېږدي. نا څاپه یې عیسی مسیح په خوب کښې ولیده چې هغه خپل د مهربانۍ ډک او په میخومو سوري لاسونه د هغې په سر کېښودل. هغه د روح القدس په قدرت سره په ځمکه پریوته. لږ وخت وروسته یې په هغو ژبو خبرې کول شروع کړل چې روح القدس هغې ته ډالۍ کړې وې.

هغه رویاګانې چې دخدای له لورې راځي هغه ژوندۍ رویاګانې دي او په ژوره توګه په سړي باندې تاثیر کوي. روح القدس د خوبونو او رویا ګانو په وسیله ډېرو خلکو ته خبرداری ورکړی دی چې د ګناهونو څخه لاس واخلي او عیسی مسیح د خپل ژغورونکي خدای په صفت قبول کړي. ممکن په خوب کښې برکت، مرسته او تشویق پیدا کړئ. او یا ممکن روح القدس تاسو ته لارښوونه وکړي ترڅو یو کس ته دعا وکړئ او یا د یو پېښېدونکي خطر څخه مو خبر کړي.

ډیرو خوبونو ته د خدای له طرفه مکاشفه نشو ویلای. کله چې تاسو ویده هستئ نوستاسو نیم بیداره وجدان کار کوي او ستاسو د فکرونو او خیالونو سلسله د خوبونو او رویا ګانو نړۍ ته بیایي. نو په دې توګه تاسو کولی شئ چې له دې خوبونو څخه په قوي توګه استفاده وکړئ. او دغه خوبونه هغو کسانو ته ددعا کولو لپاره د یادونې وسیله کیږي کوم چې ستاسو خوبونو ته راځي.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۷- که چیرې کوم خوب وینئ نوپه لاندیني نصیحت عمل وکړئ. د خوب څخه مخکې خدای ته ووایئ چې حتی په خوب کې هم غواړئ چې هغه ته نژدې شئ. کله چې ویښ شوئ د هغو کسانو لپاره چې په خوب کښې مو لیدلي دي دعا وکړئ.

## روح القدس د شرایطو او احساساتو په وسیله ستاسو لارښوونه کوي

یوې مسیحي ښځې چې په یوه سرویس موټر کښې یې د سفر کولو نیت درلود هغه ته په ټاکلي وخت ونه رسیده. څلور ساعته وروسته په دوهم موټر کښې سپره او سفر یې پیل کړ او دیوې داسې ښځې تر څنګ کښیناسته چې خدای پیژندنې ته لیواله وه. بالاخره هغې وکولی شول چې دغه ښځه د عیسی مسیح لورته رهنمایي کړي. روح القدس نوموړې ښځه د شرایطو له مخې رهنمایي کړې وه.

آیا د موقعې او فرصت دروازې ستاسو پر مخ تړل شویدي؟

خپل شاوخوا ته وګورئ. ښايي روح القدس ستاسو لپاره د فرصت کومه دروازه پرانيزي. د يوې لحظې لپاره د هغو مسيحيانو په هکله فکر وکړئ چې د خپلو ځانونو د ژغورلو په خاطر له اورشليم څخه وتښتېدل. دغو مسيحيانو چې چيرته قدم ايښی دی د انجيل څخه يې خبرې کړيدي او د هغو له لارې د خلکو روحونه ژغورل شوي دي. پولوس په زندان کښې نشوکولای چې د زيري ورکولو په خاطر خپلو سفرونو ته دوام ورکړي. مګر له هماغه ځای څخه يې خپل ځينې ارزښتناکه ليکونه نورو کليساګانو ته استولي دي.

آيا هغه شرايط چې تاسو پکښې ژوند کوئ خراب دي؟ ښايي خدای په قصدي توګه تاسو په داسې شرايطو کښې راګير کړي يئ ترڅو د خپلو شاوخوا خلکو لپاره يو څه وکړئ. د روح القدس څخه وغواړئ چې هغه څه چې ستاسو له وسه پوره دي هغه دروښئ. بيا هغه وخت خپلې سترګې پرانيزئ او خپلې متې راونغاړئ او شرايط ځانته ښه کړئ. تاسو د خدای ډيوې ئئ. د تيارو څخه ګيلې مه کوئ بلکه هر چيرته چې ياست هلته خپله روښنايي وځلوئ.

کله چې د يو تصميم د نيولو لپاره په روح القدس توکل کوئ هغه ستاسو د احساساتو او جذباتو په وسيله ستاسو لارښوونه کوي. کله چې د يوشي د سرته رسولو په هکله فکر کوئ د آرامۍ يو ژور احساس به تاسو ته حاصل شي. مګر کله چې د نورو احتمالاتو په اړه فکر کوئ نو د نا آرامۍ او ناراحتۍ احساس تاسو ته پيدا کېږي.

یو مسیحي په یوې مسافر وړونکې الوتکې کښې ځان لپاره ځای ریزرف کړی ؤ، خو د هغې په هکله یې د نارامۍ احساس کاوه. څومره چې هغه زیات فکر کاوه هغومره د هغه نا قراري زیاتېدله. بلاخره هغه خپل ریزرف بدل کړ او په بلې الوتکې کې یې چې د هغې څخه لږ ساعت پس پرواز کاوه ځانله ځای ریزرف کړ. هغه لومړنۍ الوتکه چې قرار ؤ دغه مسیحي پکښې سفر وکړي پر ځمکه راولویده او ټولې سپرلۍ یې تباه شوې. په دې توګه روح القدس د هغه ژوند وژغوره.

امثال ۶: ۹. "دانسان زړه په لارو چارو باندې فکر کوي مګر خدای یې قدمونه قوي کوي."

د یوې کلیسا کشیش بیړه کوله چې ځان یوې غونډې ته ورسوي چې مخکې یې د هغې وعده کړې وه. مګر د هغه باطني احساس هغه ته وویل: "ودرېږه او دغه دروازه وټکوه". هغه هڅه وکړه خپل دې احساس ته پاملرنه ونکړي. مګر هغه ونشو کولی ځکه د هغه دا احساس شیبه په شیبه قوي کېده. بالاخره راوګرځیده او د نوموړې دروازې مخې ته لاړ او هغه یې وټکوله. په دې کور کې یې یو مسیحي ولید چې د سختې ناچارۍ او نا امیدۍ په حالت کې پروت ؤ او د هغه مرستې ته یې سخت ضرورت درلود.

یو بل مسیحي دا احساس کړه چې باید په ډیرې تیزۍ سره د خپل دوست د لیدلو لپاره د هغه کورته ورشي. کله چې د خپل ملګري کورته ورسیده هغه یې د ځان وژنې په حالت کښې

وموند. نو هغه مسیحي وکولی شول چې خپل دوست ته د عیسی مسیح د لارې په ښودلو سره خلاصون ورکړي. او د هغه ژوند وژغوري.

یو سړي په داسې حال کښې چې د خوراکي موادو څخه یوه ډکه ټوکری، یې خپل شپون ته ورکوله هغه ته یې وویل: "خدای ماته وویل چې دغه ټکری، تاسوته راوړم". دغه شپون او د هغه مېرمن د خوراک د برابرولو لپاره پیسې نه درلودې او په هماغه شېبې کښې هغوی د دخدای حضور ته د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په دعا بوخت ؤو.

که چیرې د روح القدس څخه ډک شئ او دا زده کړئ چې د هغه دلاربښونو څخه پیروي وکړئ نو ستاسو ژوند به د حیرانوونکو پېښو څخه ډک شي. روح القدس تاسو د برکت څخه ډک ژوند په لورې بیايي او تاسو د خپلو نورو همنوعانو لپاره ګټور او اغېزمند جوړوي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸- آیا غواړئ چې روح القدس هغه څه دروښايي چې سرته رسول ئې غواړئ؟

هر سهار د روح القدس څخه وغواړئ چې هغه څوک درپه ګوته کړي چې ستاسو مرستې ته اړتیا لري. روح القدس به دې کار ته عملي بڼه ورکړي. نو بیا د هغه څخه اطاعت وکړئ.

# ستاسو یادداشت

پنځم لوست

# روح القدس تاسو ته قدرت درکوي

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- د بېلابېلو هدفونو لپاره قدرت
- د قدرت وعده
- دا وعده د پنطیکاست په ورځ پوره کېږي
- مسیح ته د اووښتلو څخه پس یوه عادي تجربه
- دروح القدس د قدرت نښې

## ژوره کتنه

تاسو به دا پوښتنه کوئ: "آیا مونږ هم کولی شو د لومړنیو مسیحیانو په څېر ددې قدرت څخه برخه مند شو؟" زه وایم چې هو! له دې کبله ستاسو پوښتنې ته مثبت جواب ورکوم چې زه

پوهیږم چې زه هم د هغوی په اندازه بې ارزښته او ضرورتمند یم. فکر نه کوم چې هغه وعظ کوونکي چې مونږ په اوسني وخت کې لرو هغه د نوې لوظنامې د زمانې د وعظ کوونکو څخه غوره وي. هغو وعظ کوونکو دې قدرت ته ضرورت درلود.

دا پوښتنه مه کوئ چې: "آیا مونږ هم کولی شو چې نن د روح القدس د دې تعمید څخه برخمند شو؟" که چېرې مونږ د دې تعمید څخه برخمند نه شو بیانو زمونږ څه فایده نشته. مسیحیت بغیر د روح القدس څخه لکه خالي زړې او یا یو ښکلي شکل مګر مړ او بې ساه شکل په شان دی. یوازې خدای یعنې روح القدس کولی شي چې داسې د اور یوه جرقه منځ ته راوړي چې د شمعو د بلولو لپاره ضروري وي.

چې زه تردې حده پورې روح القدس ته ارتیا لرم، نو که چېرې د پام وړ شرایط موجود وي، آیا خدای به د هغې له ورکړې څخه ډډه وکړي؟ هغه زیاتې وعدې چې د مقدس کتاب په زیرمو کښې پدې اړه موجودې دي مونږ دې ته تشویقوي چې په پوره ډاډ او هوساینې سره چې د ایمان څخه لاس ته راځي، ځانونه خدای ته نژدې کړو ترڅو دغه وعدې ترلاسه کړو. په ټول مقدس کتاب کښې حتی یوه جمله هم نه پیدا کیږي چې دا تائید کړي چې خدای د دې قدرت د ورکولو څخه ډډه کوي.

په مقدس کتاب کښې ګورو چې زمونږ ژغورونکي دغه سوغات زمونږ لپاره په بیه اخستی دی. دا موضوع د انجیل زیاتره برخه ځانله بیله کړې ده او باید همداسې وي. په نوې

لوظنامې کې ددې نتیجې څخه پرته کومه بله نتیجه نشو اخیستلی.

عیسی مسیح وویل چې دا به ښه وي چې دهغه پیروان له روح څخه ډک شي نسبت له دې څخه چې هغه په خپله له هغوی سره پاتې شي. له همدې کبله د روح القدس تعمید دیو مسیحی ایماندار لپاره ډیر مهم دی. د روح القدس تعمید د ټولو ایماندارنو لپاره په مختلفو دورانونو کښې وعده شوی دی.

اجازه راکړئ چې دغه مطلب په دلیل سره تاسو ته بیان کړم. خدای مونږ مسئول ګرځولي یو. خدای هر یو ایماندار د هغه څه مسئول ګرځولی دی چې د خدای په پادشاهی کښې ئې تر سره کولی شي او دهغې د سرته رسولو لپاره یې هغو ته استعدادونه او نعمتونه هم ورکړي دي چې باید د هغو څخه کار واخلي. نو په دې توګه هغه نعمتونه چې خدای تاسو ته درکړيدي د هغې استعمالول پیل کړئ.

## د بېلابېلو هدفونو لپاره قدرت

### د قدرت د کارولو څرنګوالی زده کړئ

ستاسو په نظر د بریښنا څخه په څو طریقو ګټه اخیستل کیږي؟ خلک خپل ښارونه د بریښنا په واسطه روښانه کوي، پخلنځیو کښې ورڅخه دیر زیات کار اخیستل کیږي، کورونه وربانديې دژمي په موسم کښې ګرمیږي، کار خانی او فابریکې وربانديې پکار اچول کیږي اوډول ډول ماشینونه د بریښنا په انرژۍ سره چلول کیږي. له هغه ځایه چې بشر د بریښنا له قوې

څخه استفاده کول زده کړيدي نو هغه کولی شي چې هغه کارونه هم سرته ورسوي چې غير ممکن ښکاري. حتی سپوږمۍ ته هم پورته شي.

روح القدس غواړي چې ستاسو ژوند له يو داسې قدرت څخه ډک کړي چې د بريښنا د قوې څخه هم قوي او غښتلی وي. هغه قدرت چې ټول ناشوني کارونه ممکن ګرځوي. خو تاسو بايد دهغه څخه د کار اخيستلو طريقې يادې کړئ. د دې قدرت صحيح کارول به د خدای په جلال او ستاسو په برکتونو پای ته ورسېږي. له هر ډول قدرت څخه غلطه استفاده له ځانه سره ناراحتي او ستونزې منځ ته راوړي.

هغه درې خطاګانې چې بايد د هغو څخه ځانونه وساتو:

۱- ځينې خلک د روح القدس قدرت لکه د لوبو د سامان په شان استعمالوي او لوبې وربانديې کوي.

همدغه ستونزه دکورنتيانو د کليسا هم وه. هغوی به په روحاني ژبو له خبروکولو څخه چې د روح القدس په قدرت سره ترسره کېده، داسې خوند اخيست چې د هغو يوازېني خوشالوونکي او ښه وختونه د هغوی مجلسونه او غونډې وې. په کليسا کې به ډېره بې نظمي او ګډوډي رامنځ ته شوه. هغه کسان چې د کليسا غړي نه ؤو هغوی به داسې ګومان کاوه چې دلته لېونيان سره راټول شوي دي. پولوس هغوی ته نصيحت وکړ چې هرکار بايد په مناسب ډول او منظمې طريقې سره سرته

ورسوي. هغوی باید د روح القدس قدرت په هغو لارو کې کارولی وای چې د ځانونو د ژغورنې سبب شوی وای، نه د مسیح څخه د مخ اړونې.

۲- ځینې خلک خدای ته د جلال ورکولو پرځای خپل ځان ته جلال ورکوي او غواړي چې د خلکو پام خپل ځان ته را واړي.

که چیرې روح القدس یو نفر ته دا ایمان ورکوي چې ناروغانو ته شفا ورکړي هغه ته مناسبه نه ده چې چیغې ووهي چې: "ای خلکو ماته وګورئ! زما معجزې وګورئ! وګورئ چې زه څو مره لوی قدرت لرم". او یا که چیرې خدای د یو نفر څخه د نبوت لپاره کار اخلي، په دې خاطر نه ده چې هغه نفر اعلان وکړي: "ښه به دا وي چې ټول خلک ماته غوږ ونیسي! زه یو نبي یم! که غواړئ د هغو کارونو څخه ځان خبر کړئ چې باید سرته یې ورسوئ نو بیا ما ته راشئ". دا ډول غرور ډیرې زیاتې ستونزې منځ ته راوړي.

۳- ځینې خلک د هغه قدرت څخه چې روح القدس هغوی ته ورکړی دی کار نه اخلي. چې د ایماندارانو ترمنځ دغه خطا ډېره عامه ده. ځینو ایماندارانو د روح القدس د قدرت غلط استعمال او تقلید لیدلی دی او دهر مافوق الطبیعه شي څخه وېرېږي. د تسالونیکیې کلیسا همدغه ستونزه درلودله. پولوس هغوی ته نصیحت وکړ چې روحونه و آزمایي او د هغو صحیح والی تثبیت کړي او که چیرې ثابته شوه چې هغه د دروغو نبوتونه دي نو په هېڅ صورت دې هغه قبول نکړي. مګر دې ته متوجه اوسئ چې حقیقي نبوتونه او دخدای کارونه ددې

جعلي نبوتونو سره یوځای لیرې ونه غورځوئ او یا دوارړوته په یوه سترګه ونه ګورئ.

اول تسالونیکیان ۵: ۱۹- ۲۲. "د روح القدس د اثر د لبرې کولو کوشش مۀ کوئ. د نبوتونو سپکاوی مه کوئ. ټولې خبرې آزمايئ او چې کومې خبرې ښې وي هغه راټینګوئ. د هرقسم بدۍ څخه ځان ساتئ."

دروح القدس څخه ډکیدل په دې معنی ده چې خپل کور ته د برېښنا مزي وغزوئ. خلک ددې لپاره خپل کورته د برېښنا مزی نه غزوي چې په تیاره کښې کښیني او بیا ووائي: "بلاخره زه د برېښنا له نعمت څخه برخمند شوم". خپل څراغونه بل کړئ! د روح القدس د قدرت څخه کار واخلئ! د رسولانو د عملونو په کتاب کښې د روح القدس د قدرت څخه د صحیح کار اخیستلو ډیره ښه نمونه لیدل کېږي.

دا نمونه ستاسو لپاره ده

د روح القدس قدرت په لومړنۍ کلیسا کښې د دې سبب شو چې په هغې فاسدې او وینې تویوونکې تمدن لرونکې ټولنې کې د ایماندارانو ژوند پاک او سپیڅلی شي. کله به چې هغوی نیول کیدل او دعیسی مسیح په خاطر به تر ځوررولو لاندې راتلل او وهل به یې خوړل اویا په زندانو کښې به پریوتل، دهغوی طبیعي خوښۍ او آرمتیا به هغوی دې ته اړ کړل چې سندرې ووایي او خدای وستایي. پداسې حالت کښې چې

دهغوی ټول وجود د خدای د مینی څخه ډک شوی ؤ. هغوی خپل شکنجه ورکوونکي او زورونکي معافول او د هغوی لپاره به يې دعاګانې کولې. دا دی هغه قدرت چې په صحيح توګه کارول کيږي!

هغوی يو ډير قوي پيغام درلود او دغه پيغام به يې په پوره ډاډ سره څرګنداوه. هغوی پوهيدل چې د څه شي په اړه خبرې وکړي. انسان د عيسی مسيح څخه بغير ديو ورک شوي شي څخه زيات ندی. مګر عيسی هغو کسانو ته چې په هغه ايمان راوړي خلاصون ورکوي. هغوی به په هغې عقلمندۍ، زړه ورتيا او حکمت سره خبرې کولې چې د هغوی د شخصي توان څخه پورته ؤو. هغه قدرت چې اوريدونکي به يې قانع کول او د ګناهونو دکولو په علت به يې هغوی ملامتول.

دغو ايماندارانو د قدرت څخه ډک يو پيغام درلود. هغوی پوهيدل چې خدای له هغوی سره دی او د خپلې وعدې په مطابق د هغوی له لارې کار کوي. نو له همدې کبله د عيسی مسيح په نامه به يې شل او ګوډ ته حکم کاوه چې پورته شه او هغه به سمدستيً پورته شو او په لارې کښې به ګړندی شو. هغوی به دعا کوله او د پام وړ پيښې به رامنځ ته شوې. ناروغانو به شفا حاصله کړه. د زندان دروازې به خلاصې شوې او بې شمېره ګناهګاران به خدای ته واوښتل.

دغه قدرت لکه څنګه چې عيسی مسيح فرمايلي ؤ، د لومړنۍ کليسا مومنين يې په يو باقدرته شاهدانو بدل کړي ؤو. هغوی د عيسی مسيح له زړه ورتيا او مېړانې څخه ډک ؤو

او دې ته ډېر لیواله ؤو چې له خپلو ټولو ګاونډیانو سره د عیسی مسیح په اړه خبرې وکړي. هغوی یو ماموریت او دنده درلوده چې باید هغه یې ترسره کړې وای. جرئت، مېړانه، محبت، لوی بصیرت او د مسیح لپاره پوره سرښندنې هغوی ته دا قوت ورکاوه چې د یو ښار څخه بل ښار ته او د یو هېواد څخه بل هېواد ته د مسیح د زېري د خپرولو په خاطر سفرونه وکړي. هغوی دا هوډ کړی ؤو چې د مسیح خلاصون ورکوونکی پېغام د نړۍ ټولو خلکو نارینه، ښځو، ماشومانو او لویاتو ته ورسوي.

دا په لومړنۍ کلیسا کښې دقدرت یوه مثالي نمونه ده. په دې حالت کې د هغوی قدرت د روح القدس قدرت ؤ چې هغوی یې ډک کړي ؤو او د هغو له لارې یې کار کاوه. هغه څه چې هغوی ترلاسه کړل هغه عملونه ؤو چې د روح القدس څخه د ډک ژوند څخه به یې سرچینه اخیستله. مقدس کتاب د هغوی د تجربې جزئیات ددې لپاره بیان کړل ترڅو د ننني ورځې د مسیحیانو د پاره یوه نمونه او مثال وي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱- په دې لاندیني لست کښې هر هغه څه چې د لومړنۍ کلیسا په دوران کښې د روح القدس د قدرت نتیجه وه، دهغې څخه یوه دایره چاپیره کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ویره | ایمان | پیغام | تشویش مېړانه | محبوبیت |
| شفا | رؤیا | پیسې | د خلکو توبه | مینه او محبت |

## د قدرت وعده

تعمید ورکونکي یحیی وعده وکړه چې عیسی مسیح به په اوبو او اور باندې تعمید ورکوي. دا یوه عمومي وعده وه چې ټولو هغو کسانو لپاره چې توبه یې وېستله او د هغه په وسیله د اوبو تعمید یې اخیسته، بیان شوې وه.

متي ۳: ۱۱. "زه تاسو ته د توبې لپاره په اوبو بپتسمه (تعمید) درکووم خو ځوك چې به زما څخه ورسته راځي هغه زما څخه زیات زورور دی. زه د هغه د څپلیو پورته کولو قابل هم نه یم. هغه به درله په روح القدس او په اور بپتسمه (د تعمید غسل) درکوي."

عیسی د مسیحیانو لپاره یوه لویه دنده په نظر کښې نیولې وه چې بایدد پیړیو او زمانو په ترڅ کښې هغه سرته ورسوي. هغه پوهېده چې مسیحیان د خپل قدرت او قوت په وسیله دا ماموریت او دنده سرته نشي رسولی. نوله همدی کبله یې خپلو مریدانو ته وویل چې انتظار وباسي ترڅو د روح القدس څخه قدرت ترلاسه کړي او هغه وخت به د هغه شاهدان شي. دعیسی مسیح دغه حکم او وعده دهغه دټولو پیروانو لپاره ؤو.

لوقا ۲۴: ۴۹. "زه تاسوته د خپل پلار کړی لوظ دراستوم، دلته پدې ښار کښې ترهغې پاتې شئ ترڅو چې تاسو ته آسماني قوت نازل شي."

اعمال د رسولانو ۱: ۴-۵ او ۸. "... هغوی ته یې حکم وکړ چې د بیت المقدس څخه مه وځئ او دا یې وویل چې تاسو خامخا انتظار وکړئ د دې د پاره چې هغه وعده چې زما پلار کړېده او ما یې تاسو ته ذکر کړی دی، پوره شي. او لکه چې تاسو ته معلومه ده چې یحیی به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به په روح القدس بپتسمه درکړای شي او دا به لږې ورځې پس وي ... تاسو ته به د روح القدس په نازلېدو طاقت درکړای شي او تاسو به په بیت المقدس کښې او په ټوله یهودیه او سامریه کښې او ددې نه اخوا د دنیا تر بل سره زما شاهدان یئ."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۲- اعمال ۱: ۱-۱۴ ولولئ او ۴،۵ او ۸ آیت له یاده زده کړئ.

## دا وعده د پنتکاست په ورځ پوره کېږي

د عیسی مسیح پیروانو د روح القدس د وعدې د ترلاسه کولو لپاره څه وکړل؟ د هغو څخه ۱۲۰ تنو د لسو ورځو لپاره انتظار ووېست، دعاګانې یې وکړې او په دې طمع ؤو چې څه په پیښېږي. او دا پېښه وشوه! دپنطیکاست په ورځ هغوی هغه څه ترلاسه کړل چې مونږ ورته "د پنطیکاست پېښه" وایو. هغوی د روح القدس څخه تعمید واخیست.

اعمال ۱: ۱۴. "هغوی ټول له یوې مخې په دعا سر ؤو..."

**اعمال د رسولانو ۲: ۱-۵ او ۷-۸ او ۱۱ او ۱۳ . "کله چې د پنطیکاست ورځ راغله او هغوی ټول په یو ځای کې راجمع شوي ؤو، ناڅاپي د آسمان څخه د تېز باد په شان آواز راغی او په هغه ټول کور کښې چېرته چې دوی ناست ؤو، اوربېدلی شو. او هلته هغوی د اور د لمبو په شان ژبې ولیدلې، هغه په هغوی کې خپرې شوې او هر یو یې مسح کړ. او ټول په روح القدس ډک شول او په پردو ژبو یې خبرې شروع کړې څنګه چې روح القدس د خبرو طاقت ورکړو. هغه وخت په بیت المقدس کې د آسمان د لاندې د هرقوم څخه راغلي پرهېزګاران اوسېدل... او په حېرانتیا کې یې وویل، «آیا دا ټول ګلیلیان نه دي څه چې خبرې کوي؟ نو بیا دا څه خبره ده چې مونږ ټول د خپل ملک ژبه اورو چې دوی یې وایي؟... یهودیان او نوي یهودیان شوي خلک، کریتیان او عرب... ځینو په توکو کښې وویل چې دوی د شرابو په نشه کې دي."**

لدې څخه مخکې پطرس د ملنډو او ټوکو څخه سخت وېرېده. مګر د روح القدس د قدرت د ترلاسه کولو وروسته څه عجیبه بدلون په هغه کښې راغلی ؤ! هغه له خپل ځای څخه راپورته شو اود قدرت څخه د ډک کلام په موعظې یې پیل وکړ. پطرس هغوی ته تشریح کړه چې هغه څه چې هغوی لیدل هغه دخدای دوعدې پوره کیدل ؤ. خدای خپل روح رانازل کړی ؤ.

**اعمال د رسولانو ۲:۱٤-۱۷ او ٤۱. "خو پطروس**

> دیوولسو تنو سره پاڅید او په لوړ آواز یې هغوی ته وویل: ای یهودانو ملګرو! او هغه کسانو چې په بیت المقدس کښې اوسئ، په دې پوه شئ او زما خبرې واورئ. دا سړي د شرابو په نشه کې نه دي لکه څنګه چې ستاسو خیال دی ځکه چې اوس خو لا د سهار نهه بجې دي. دا هغه څه دي چې یوئیل نبي د هغې په هکله ویلي ؤو چې: «په آخرو ورځو کښې به داسې کیږي چې زه به خپل روح په هر یو کس نازلوم او ستاسو زامن او لوڼه به نبوت کوي، ستاسو ځوانان به رویا په سترګوویني او زاړه خلک به خوبونه.» او بیا چې کومو خلکو دا خبرې قبولې کړې هغوی ته یې بپتسمه ورکړله او په هغه ورځ تقریباً درې زره کسان د هغوی سره شامل شول."

له دې پیښې څخه وروسته، د رسولانو د عملونو کتاب د روح القدس د هغو کړو وړو بیان دی چې د مسیحیانو له لاری صورت نیسي. روح القدس هغوی سره مرسته وکړه ترڅو شهادت ورکړي، دانجیل زیری دنړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوي او د مسیح لپاره بدنونه ښکار کړي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳- کوم کتاب په مسیحیانو کښې د روح القدس د کار نمونې او مثالونه ښئ؟

۴- د رسولانو داعمالو د کتاب لومړی فصل ولولئ.

## مسیح ته د اووښتلو څخه ورسته یوه عادي

**تجربه**

رسولانو طمع لرله چې ټول ایمانداران به په مسیح د ایمان راوړلو څخه ورسته د روح القدس څخه ډک شي. پطرس دغه موضوع په روښانه توګه بیان کړې ده.

اعمال د رسولانو ۲: ۳۸- ۳۹. "پطرس وویل، ((توبه ګار شئ او په تاسو کښې هریو دې د خپلو ګناهونو د معافی لپاره د عیسی مسیح په نوم بپتسمه(تعمید) واخلي او تاسو ته به روح القدس وبخښلی شي. د خدای وعده تاسو سره، ستاسو د اولاد او د هغو ټولو سره ده څوک چې لېرې دي یعنې د هر هغه چا سره ده چې څوک زمونږ مالک خدای راوبلي.))"

که چېرې نویو ایمان راوړونکو د ایمان راوړلو څخه پس سمدلاسه د روح القدس تعمید نه اخیست، یو ایماندار به دهغوی لپاره دعا کوله او هغوی به هم د روح القدس څخه ډک کیدل.

اعمال د رسولانو ۸: ۱٤- ۱۷. "بیا په بیت المقدس کښې رسولانو واوریدل چې سامریانو دخدای کلام قبول کړ نو هغوی پطرس او یوحنا ورواستول. هغوی هلته لاړل او د عیسی د منونکو لپاره یې دعا وکړله چې په دوی دې روح القدس نازل شی. ځکه تر دې وخته په هېچا روح القدس نازل شوی نه ؤ. هغوی بس د مالک په نوم بپتسمه (تعمید) اخیستې

وه. نو پطرس او یوحنا په هغوی باندې لاسونه
کېښودل او هغوی له روح القدس څخه ډک شول.“

دشاول د ایمان راوړلو څخه وروسته خدای هغه ته حنانیا وروا‌ستاوه چې د هغه لپاره دعا وکړي.

اعمال د رسولانو ۹: ۱۷. ”... زما وروره شاوله! مالک
عیسی چې په تا په لارې کې ښکاره شوي ؤو، هغه زه
تاته په دې غرض را استولی یم چې ته بیا بینا شې
او د روح القدس څخه ډک شې.“

کرنیلیوس او دهغه کورنۍ د انجیل زیری واورید او په هغه یې ایمان راوړ او دهغه د حقیقت په قبلولو سره یې خلاصون پیدا کړ. او مخکې له دې چې پطرس خپل وعظ ختم کړي د روح القدس څخه ډک شول. د افسس دایماندارانو تجربه یوه بېله تجربه وه. هغوی لکه د ننني مسیحیانو په څیر ددې موضوع څخه خبرنه ؤو چې خدای غواړي هغوی له روح القدس څخه ډک کړي. پولوس د هغوی څخه پوښتنه وکړه:

اعمال ۱۹: ۲او ۶. ”او هغوی ته یې وویل چې، «څه
وخت چې تاسو ایمان راوړی ؤ نو روح القدس
درباندې نازل شوی ؤ څه؟» هغوی جواب ورکړ چې،
«نه، مونږ خو بیخي د روح القدس څخه خبر هم نه
یو.» او کله چې پولوس خپل لاسونه په هغوی
کېښودل نو په هغوی روح القدس نازل شو او
هغوی په مختلفو ژبو خبرې کولې او د نبي په شان

ګویا شول.»

د لومړنۍ کلیسا مثالي نمونو ته په پاملرنې سره په دې ټکي باندې ډېر ښه پوهېږو چې خدای غواړي خپل ټول اولادونه د روح القدس او د قدرت څخه ډک کړي. کومو کسانو روح القدس ترلاسه کړ؟ شتمن او غریب، ښځو، نارینوو او ماشومانو، باسوادانو او بې سوادانو، مذهبي خلکو او هغو خلکو چې په دې وروستیو کې یې ځانونه د ګناه له بند څخه ژغورلي ؤو، او د مختلفو ملتونو او قومونو څخه خلک. پطرس د رومي صاحب منصب کرنیلیوس په کور کښې داسې وویل:

اعمال د رسولانو ۱۰: ۳٤ او ٤۷ . "ماته معلومه شوه چې دا خبره څومره ریښتیا ده چې خدای د هېچا طرفدار نه دی... آیا داسې څوک شته چې دا خلک د اوبو سره د بپتسمې اخیستلو څخه منع کړي، چې په دوی روح القدس داسې نازل شوی دی لکه چې په مونږ."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۵- چا وویل چې خدای هیڅ قسم نژادي توپیر او فرق نه مني.

## د روح القدس د قدرت نښې

په نورو ژبو خبرې کول

کله چې روح القدس د پنطیکاست په ورځ نازل شو، د خپل

قدرت څو نښې یې ښکاره کړې. خلکو د سخت باد او طوفان د آواز په څیر غږ واورید. داور د لمبو ژبې یې ولیدې او په هغو ژبو یې خبرې وکړې چې ترهغه وخته پورې وربانديې نه پوهیدل. د رسولانو د اعمالو په کتاب کښې ددې نښو څخه یوه نښه مومو چې هغه په نورو ژبو خبرې کول دي چې نورو ته د روح القدس د تعمید ورکولو په مبحث کښې تکرار شو. پطرس په دې مطلب پوه شو چې کرنیلیوس او د هغه کورنۍ د روح القدس څخه ډک شویدي. همدغه نښه په افسس کښې هم تکرار شوه. دغه تجربې یو د بله سره مقایسه او پرتله کړئ.

اعمال د رسولانو ۲: ٤. "ټول د روح القدس خخه ډک شول او په پردیو ژبو یې خبرې شروع کړې څنګه چې روح القدس د خبرو طاقت ورکړ."

اعمال د رسولانو ۱۰: ٤٤-٤٧. "پطرس لا خبرې کولې نو په ټولو اوریدونکو باندې روح القدس نازل شو. د عیسی منونکي یهودیان چې پطرس سره راغلي ؤو هغوی ډیر حیران شول چې د روح القدس نعمت په غیرو قومونو هم نازل شو. ځکه چې هغوی هم په نا آشنا ژبو کښې خبرې کولې او د خدای لویې یې بیانوله. بیا پطرس وویل، «آیا داسې څوک شته چې دا خلک د اوبو سره د بپتسمې (تعمید)اخیستلو څخه منع کړي، چې په دوی روح القدس داسې نازل شوی دی لکه چې په مونږ."

**اعمال ۱۹: ۶."او کله چې پولس خپل لاسونه په هغوی کېښودل نو په هغوی روح القدس نازل شو او هغوی په مختلفو ژبو خبرې کولې او د نبي په شان ګویا شول."**

د روح القدس د قدرت په وسیله په پردیو او روحاني ژبو خبرې کول د یوما فوق الطبیعه قدرت نښه ده چې خدای اراده کړې ده ترڅو وښایې چې یو فرد د روح القدس څخه ډک شوی دی. هم پولوس او هم عیسی دواړو په پردیو ژبو خبرو کولو ته د روح القدس د ډکوالی دنښې او ثبوت په توګه اشاره کړې ده.

**مرقس ۱۶: ۱۷. "د ایمان په راوړلو به ورڅخه دا معجزې څرګندیږي چې زما په نوم پیریان لیرې کوي او په پردیو ژبو به خبرې کوي."**

**اول کورنتیان ۱۴: ۲۲. "نو روحانی ژبی دایماندارانو لپاره نه، بلکه دبی ایمانانو لپاره نخښې دي او دنبی په شان کلام کول د بی ایمانانو لپاره نه بلکه دایماندارانو لپاره نخښې دي."**

په ټوله نړۍ کښې مسیحیان په پرله پسې توګه د روح القدس دغه ورکړې او بخششونه تجربه کوي.

معمولاً روحاني ژبه د ټولو هغو کسانو لپاره چې حاضر دي، آشنا نه ده. مګر سره د دې هم ، ډیر ځله روح القدس د یوچا په وسیله په یوې نا آشنا ژبې خبرې کړي دي مګر د

غونډې د یو بل برخه وال له خوا هغه ترجمه او پوهېدل شوی دی، چې د پنطیکاست پېښنه د هغې ډېره ښه بېلګه ده.

### د قدرت نورې نښې او علامې

تاسو هغه نورې نښې او علامې لوستلي دي چې په روح القدس دډک کیدو څخه وروسته راښکاره کیږی. پاک ژوند، دخدای مینه، جرئت او عیسی مسیح ته په کامله توګه ځان وقفونه. د قدرت دغه نښې په قوي ایمان، قوي دعا قوي شهادت او قوي موعظې کې لیدل کېږي. او د هغې نتایج د خلکو ایمان راوړل، شفا ورکول، په روح القدس کښې تعمید دی او د کلیسا وده کول هم د قدرت له نورو نښو څخه شمارل کیږي. ډاکتر الکساندر مک لارن لیکلي دي:

"د خدای د سلطنت د پراخولو او د بشارت د کار د سرته رسولو لپاره چې د کلیسا دنده ده دخدای د روح د لرلو څخه بل هیڅ قوي شی نشته. د تعمید د هغه سوځوونکي اور په مقابل کښې ټولې خودخواهي ګانې او هغه سوري چې زمونږ په لارې کښې پیدا کېږي ټول له منځه ځي او سوځول کیږي او مونږ د خپل مالک خدای خدمت ته آزاد ېږو ځکه هغه بندونه چې مونږ یې خپل اسیران کړي ؤو د رحمت د دې سره تنور په لمبو کې وسوځي او خاورې ایرې شي.

تاسو د خدای د روح په قدرت سره په خپل باطني انسانیت کې په قدرت سمبا لیږئ او قوت پیدا کوئ. داسې قدرت چې ستاسو ټول طبعیت ته په خپل ځان کښې ځای ورکوي. په دې

شرط چې تاسو ورته اجازه ورکړئ. که چیرې روح القدس ته اجازه ورکړئ هغه به تاسو د کړاوونو د زغملو، جنګ کولو، خدمت کولو او زیري ورکولو لپاره قوي کړي."

**خپل جوابونه ورسره مقایسه کړئ**

۱- ایمان ، پیغام ، میړانه ، شفا ، رؤیا ، د خلکو توبه ، مینه

۳- اعمال د رسولانو (یا مقدس کتاب)

۵- پطرس

شپږم لوست

# روح القدس تاسو شیرازه کوي

**هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ**

- ❖ نور خلک د روح القدس څخه ډک شوي دي
- ❖ روح القدس ته هر کلی ووایئ
- ❖ ایمان ولرئ او ترلاسه کړئ
- ❖ روح القدس ته تسلیمیدل

**ژوره کتنه**

څوک چې خدای لټوي باید په دې ډاډه وي چې د روح څخه د ډکیدلو تجربه په عملي توګه ممکن ده او دا ډکېدنه د فدیې او خلاصون د هغه پلان یوه برخه ده کوم چې د خدای له خوا جوړ شوی دی. دا نه کوم اضافي او میراثي او نه هم کوم عجیب او

غریب شی دی. د روح څخه ډکیدل د خدای یو صحیح او روحاني عمل دی چې د بشر د ګناهونو د بخښلو په کار کښې د عیسی مسیح د فدیې پربنیاد ولاړ دی. هغه څوک چې د خدای په لټه کښې دی باید ایمان او باور ولري چې دغه ټول عادي او طبیعی کارونه دي. تر هغې پورې چې څوک په دې ایمان او باور نه وي رسېدلی زه ورته نصیحت کوم چې روژه ونیسي او دعا وکړي او د خدای د کلام د موضوعاتو په اړه فکر وکړي. ځکه ایمان د خدای له کلام څخه سرچینه اخلي.

وروسته له دې چې یو نفر دغه باور ترلاسه کړي چې کولی شي له روح القدس څخه ډک شي، نو باید د هغه د ډکیدو لپاره لیواله شي. زه د هغه چا څخه چې د روح څخه ډکیدوته لیوالتیا ولري او د هغه غوښتونکی وي دا پوښتنه کوم: آیا ډاډه یې او غواړې چې روح القدس ستا د بدن هره حصه ډکه کړي؟ روح القدس سپیڅلی او مهربانه دی، روح القدس پوه او مینه ناک دی. نو په دې حالت کښې آیا خوشاله یې چې روح القدس دې ستا د ژوندون څښتن او مالک وي؟ آیا په دې اطمینان لرې او غواړې چې ستا شخصیت دې د هغه چا تر واک لاندې راشي چې ستا څخه د خدای د لیکل شوي کلام په مقابل کې فقط اطاعت او فرمانبرداري غواړي؟ هغه څوک چې ستا د ژوندانه ګناهونه زغملی نشي او نه هم ستا خود خواهي ګانې او سازشونه؟ هغه څوک چې تاله اجازه نه درکوي چې بې ځایه وغړېږې او ځان ښودنه وکړې؟ هغه څوک چې ستا د ژوند لاربښوونه ستا له لاسه اخلي او دا حق څښتن تعالی ته ورکوي

چې تا و آزمايي او تربيت کړي؟ هغه څوک چې ستا د خپلې خوښې هدفونه او وسايل چې تاته ډېر ګران هم دي، له تا څخه فقط په دې دليل اخلي او لېرې يې غورځوي چې هغه تا ته زيان رسوي؟ تر هغې پورې چې تا ددغو ټولو پوښتنو لپاره د زړه له کومې د ((هو)) جواب نه وي ورکړی د روح القدس څخه ډکېدای نشي. ممکن ستا وجود د شور او هيجان او يا د برياليتوب او قدرت لپاره ولوله وکړي. مګر ته به په واقعي توګهً ددې غوښتونکی نه يې چې د روح القدس څخه ډک شې.

## نور خلك د روح القدس څخه ډك شوي دي

آيا په دې پوهيدئ چې خدای خپل روح القدس د پنطيکاست د ورځې څخه زيات په ټولو انسانانو نازلوي؟د يوئيل نبي د نبوت يوه برخه په هغه ورځ پوره شوه. او په پراخه توګه نن ورځ پوره کيږي.

اعمال د رسولانو ۲: ۱۷. "خدای فرمايي چې په آخري ورځو کښې به داسې کيږي چې زه به خپل روح په هر يو کس نازلوم او ستاسو زامن او لوڼه به نبوت کوي، ستاسو ځوانان به رويا په سترګو ويني او زاړه به خوبونه."

د ۳۰۰م څخه تر ۱۹۰۰ م کلونو پورې ځينو خلکو او ډلو په روح القدس کښې تعميد واخيست. اګوستين، ګزاويه، والدنسان، زين زندروف، فينی او ډيرو لومړنيو ميتديستانو (د عيسويانو هغه ډله چې دجان او چارلروسيلي له خوا تاسيس

شوې وه) او کواکرانو (یعنی ددوستانو د ټولنې غړو چې د مسیح د پیروانو څخه یوه ډله ده) د پنطیکاست تجربه او قدرت ترلاسه کړل.

په کال۱۹۰۰م کښې خدای خپل روح په ټوله نړۍ کښې په خپلو اولادونو باندې نازل کړ. د هغې زمانې څخه وروسته دپنطیکاست د نهضت خوزښت او بیا ژوندي کیدنه پیل شوه. ددې نهضت پیروان د نړۍ په ټولو پنطیکاستي کلیسا ګانو کښې (۱۵ملیونو) تنو څخه زیات دي. پردې سر بیره په زرګونو خلک په کاتولیک، لوتري، اسقفی، پرزبیتري، متدیست، باپتیست په کلیساګانو او نورو ډیرو کلیسا ګانو کښې د د روح القدس څخه ډک شوي دي.

څوک له روح القدس څخه ډکیږي؟ هغه خلک چې د خدای وږي او تږي وي. ډېر خلک د خپل وخت او خوراک څخه صرف نظر کوي او هغه دعا ته ځانګړی کوي ترڅو د خپل خدای سره زیات راز او نیاز وکړي. د روح لوږه د جسماني لوږې څخه مهمه وي.

زبور ۴۲: ۲. "زما روح د خدای تږی دی، د ژوندي خدای تږی."

یوحنا۷: ۳۷- ۳۹ . "عیسی ودربد او په چیغو یې وویل، ((څوک چې تږی وي هغه دې ماله راشي، هغه دې وڅښي او څوک چې په ما ایمان راوړي، لکه چې صحیفې وایي: (د ژوندون د اوبو سیندونه به د هغه

څخه بهيږي.) عيسی دا خبره د هغه روح القدس په باره کښې وکړه کوم چې په هغه چا نازلېده چاچې په عيسی ايمان راوړ."

روح القدس هغه خلک ډک کوي چې غواړي د خپل ژوند کنترول هغه ته وسپاري. داهغه خلک دی چې خپل ذهن، احساسات، اراده او خپل ټول جسم خدای ته سپاري، ترڅو خدای هغه په هرې لارې کې چې غوښتي وي استعمال کړي.

**هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ**

۱- د رسولانو د اعمال ۲: ۱۷ له ياده زده کړئ.

## روح القدس ته هر کلی ووايئ

که چيرې خبر شئ چې يو دوست ستاسو ليدلوته راځي نو څه به وکړئ؟ خپل کور صفا کوئ او دې ته ځان تياروئ چې دهغه هر کلی وکړئ. ستاسو ملګری روح القدس غواړي چې ستاسو کور ته راشي او تاسو ډک کړي. جنرال ويليام بوت د ((لشکر نجات)) (Salvation Army) بنسټ ايښودونکي پدې هکله داسې ليکلي دي.

مخکې له دې چې په زنګون کښېنئ او په ګونډوشئ او د اور څخه تعميد واخلئ، وګورئ آيا ستاسو روح د روح القدس د هدف او اردای سره سمون خوري او که نه. وګورئ چې ايا ستاسو داړيکو تګ لاره چې په هغې سره غواړئ د روح القدس تعميد واخلئ، پراخه او پرانيستې ده او که نه. اوريدلي مې دي

چې یوې ډلې اوبو ته ضرورت درلود خو په نلونو کښې اوبه نه وې، هغوی به په پرله پسې توګه د نلونو شیردانونه خلاصول. مګر یو څاڅکی اوبه هم ورڅخه نه بهیدلې. ذخیره له اوبو څخه ډکه وه، ټولو پیپونو، نلونو او شیردانونو په صحیح توګه کار کاوه، مګر بیا هم اوبه نه راتلې. بالاخره هغوی پیپونه راوویستل او وېې کتل چې یو موږک پکښې بند پاتې ؤ چې د اوبو مخه یې نیوله.

د شیردانونو خلاصول یعنی دعا، روحاني سندرې ویل او حتی ایمان راوړل به څه فایده ونکړي که چیرې اوس هم کومه ګناه په تاسو کښې پاتې وي او یا هغه شی چې پوهیږئ خدای ورڅخه نفرت کوي مګر بیا هم له هغې څخه لاس نه اخلئ. هغه څه چې په نلونو کې بند پاتې دي هغه راوباسئ او لېرې یې وغورځوئ او هغې ته موقعه مه ورکوئ. د هغه څخه مخ واړوئ. بتان، خنډونه او بندونه داسې له منځه یوسئ او نابود کړئ چې د همیش لپاره سر پورته نکړي. اجازه ورکړئ چې ستاسو او د خدای ترمنځ آزادې اړیکې وجود ولري. مخکې له دې چې په خپلو پښو ودرېږئ ټول دغه بد عادتونه په خپل ژوند کښې د خپل ځان څخه لېری کړئ. زه ایمان لرم چې تاسو به له روح القدس څخه تعمید واخلئ. دنیا به د دې تعمید قدرت احساس کړي او ټول جلال به همیشه د خدای لپاره وي.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۲- دغه برخه د دوهم ځل لپاره ولولئ او د خدای څخه

وغواړئ چې خنډونه او ديوالونه تاسوته دروښي.

## ایمان ولرئ او تر لاسه کړئ

تاسو روح القدس په هغه ډول موندلی شئ لکه څنګه مو چې ژغورنه تر لاسه کړې ده. یعنی د خپل ایمان په وسیله . یعنی یوازې د خدای په وعدې باور وکړئ او هغه نعمت او بخشش چې تاسو له درکوي هغه قبول کړئ. اوس ځینې هغو نورو وعدو ته اشاره کوم چې تاسو سره د ایمان په لرلو او دخدای د نعمتونو په موندلو کښې مرسته کوي. دا وعدې په تاسو پورې اړه لري. هغه زده کړئ او همیشه یې تکرار کړئ. کله چې ددغو وعدو په حقیقت او ریښتینولی باندې پوه شوئ نو د نعمتونو ترلاسه کول به تاسو ته آسانه شي.

لوقا ۱۱: ۹ او ۱۱- ۱۳. "او دغه شان زه تاسوته وایم چې وغواړئ نو تاسو ته به درکړای شي، ولټوئ نو تاسو به یې ومومئ، وډکوئ او دروازه به درته خلاصه کړای شي... په تاسو کښې داسې یو پلار هم شته چې زوی ورڅخه ماهي وغواړي او دی ورته مار ورکړي؟ او یا چې هغه هګۍ وغواړي نو دی ورته لړم ورکړي؟ ځکه چې که تاسو هر څومره بد یئ خو په دې پوهېږئ چې خپلو ماشومانو له ښه شیان ورکړئ نو ستاسو آسماني پلار به څومره زیات هغوی ته روح القدس ورکړي چې څوک یې غوښتنه کوي."

په خدای ایمان او باور ولرئ. د غوښتنې او تقاضا څخه وېره مه کوئ. او کله چې د روح القدس قدرت په تاسو را نازلیږي مه ویرېږئ. خدای له تاسو سره مینه کوي. تاسو د هغه اولادونه یئ. هغه به کله هم د ماهي په ځای تاسو ته مار درنکړي.

**اعمال ۲: ۳۸- ۳۹. "توبه ګار شئ او په تاسو کښې هر یو دې د خپلو ګناهونو د معافۍ د پاره د عیسی مسیح په نوم بپتسمه (تعمید) واخلي او تاسو ته به روح القدس وبخښلی شي. د خدای وعده تاسو سره، ستاسو د اولاد او د ټولو سره ده څوک چې لېرې دي یعنې هرڅا سره ده چې څوک زمونږ مالک خدای راوبلي."**

**اعمال ۵: ۳۲. "...هغه روح القدس چې خدای هغه چا ته ورکړی دی چې د هغه تابعدار دي."**

د روح القدس د ترلاسه کولو لپاره فقط پدې ایمان ولرئ چې دغه سوغات په ځانګړې توګه په تاسو پورې اړه لري. نو هغه ټینګ ونیسئ او خپل یې کړئ. او په همدې توګه د خدای په وعدې باندې هم باور وکړئ. د خدای حضور ته لاړ شئ او دهغه څخه هغه نعمت وغواړئ چې د هغه وعده یې کړې ده. دهغې لپاره د خدای شکر ادا کړئ او هغه ترلاسه کړئ. پدې ایمان او باور ولرئ چې روح القدس راځي ترڅو ستاسو ټول وجود ډک کړي. خپلې ارادې، غوښتنې، لیوالتیاوې او

احساسات هغه ته وسپارئ او اجازه ورکړئ چې ستاسو د ژوند لومړی مقام د روح القدس لپاره وي. که چیرې دغه کار وکړئ نو هغه به مو ډک کړي او تاسو به هم وپیژني.

ګلتیان په خط ۳: ۲ او ۱٤. "زه ستاسو څخه صرف دا پوښتنه کول غواړم چې تاسو د شریعت په عملونو روح القدس موندلی یا په زیري د ایمان راوړلو په وسیله؟ ...مونږ د ایمان په وسیله هغه روح القدس حاصل کړ د کوم چې خدای وعده کړې وه."

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۳- درسولانو د اعمالو له کتاب څخه ۲: ۳۸ او ۳۹؛ ۵: ۳۲؛ لوقا ۱۱: ۹ او ۱۱- ۱۳ له یاده زده کړئ.

دغه آیتونه د خپل ځان څخه په پوښتنې کولو سره تکرار کړئ.

## روح القدس ته تسلیمیدل

تاسو د روح القدس څخه ډکوالی د هغې لارې څخه ترلاسه کوئ چې وکولی شي ستاسو لارښوونه وکړي، ستاسو له لارې دعا وکړي او د بشارت او زیري ورکولو په وخت کښې ستاسو په ژبو داسې الفاظ جاري کړي چې هغې ته ضرورت لرئ او تاسو ته دا ایمان دروبخښي ترڅو د هغه په معجزه ښکاره کوونکي قدرت باندې باور وکړئ. د روح القدس تعمید ددې ډول ژوند دلومړنیو مراحلو څخه شمارل کیږي. د روح القدس ځینې کارونه کولی شئ چې د روح په تعمید کې هم تجربه

کړئ. د روح القدس تعمید لکه د یوې دروازې په شان دی چې د هغې له لارې کولی شئ هغه ژوندون ته داخل شئ چې د روح څخه ډک دی او د هغه له خوا هدایت کېږي. په دې دروازې کې په ننوتلو سره خپل احساسات، ذهن، اراده او جسم په مکمله توګه روح القدس ته سپارئ.

اکثر خلک چې د روح څخه د ډکېدلو لپاره دعا کوي، هغوی د تسلیمۍ او د روح القدس څخه د بلنې په علامت خپل لاسونه پورته کوي او په دې وسیله خپل چمتووالی اعلانوي ترڅو خپل کنترول هغه ته وسپاري. ځینې هم کله چې د تسلیم او دعوت سندرې وايي له روح څخه ډکېږي.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

٤- د څلورو هغو حالتونو نومونه واخلئ چې تاسو د هغو په سپارلو سره روح القدس ته اجازه ورکوئ ترڅو ستاسو ژوند ته لار پیدا کړي.

**خپل ذهن روح القدس ته وسپارئ**

روح القدس په تاسو کښې استوګنه کوي ترڅو تاسو سره په دعا او زیري رسولو کښې مرسته وکړي. په همدې اساس کولای شئ د هغه څخه دا طمع ولرئ چې د هغه څه لپاره چې دعا کوئ هغه ستاسو ذهن ته راولي او تاسوته معلومه کړي چې د کومو شیانو لپاره د خدای شکرادا کړئ. د روح القدس څخه اطاعت وکړئ. د پاک روح په اطاعت کولو سره هغه ته ددې توان ورکوئ ترڅو ستاسو له لارې او ستاسو په ژبه او یا هره بله ژبه

چې اراده کوي، دعا وکړي.

### خپل احساسات روح القدس ته وسپارئ

ستاسو احساسات ستاسو د طبیعت یوه برخه ده. هغه روح القدس ته وسپارئ. که چېرې ددعا په وخت کښې د ژړا احساس تاسو ته پیدا شو نو د خپلو اوښکو دبهېدلو مخه مه نیسئ. روح القدس پرېږدئ چې هر قسم سختۍ، خود خواهي، شک او د خدای په مقابل کې هغه مقاومت چې په تاسو کې پیدا کوي هغه له منځه یوسي. پرېږدئ چې هغه تاسو محکوم کړي، تاسو پاک کړي او ستاسو څخه هغه شخصیت جوړ کړي چې هغه یې غواړي. د خپلو دوستانو او عزیزانو لپاره چې په ګناهونو کې ډوب دي او یا دهغو میلیونونو انسانانو لپاره چې تر اوسه یې د انجیل زېری نه دی اورېدلی وژاړئ. دا په تاسو کښې د روح القدس کار دی چې د روحونو د خلاصون لپاره صورت مومي.

کله چې روح القدس تاسو ډک کوي دومره محبت به تاسو ته دروبخښي چې غواړئ یوازې د خدای عبادت وکړئ او هغه وستایئ. په دې کار سره به دومره خوشاله شئ چې ستاسو په خولو کښې به موسکا جاري شي. مخ په وړاندې لاړ شئ او دغه مینه او خوشالي چې د روح القدس څخه سرچینه اخلي، څرګنده کړئ.

اول خط د پطرس ۱: ۸. "... او داسې خوشالي کوئ

چې د بیان څخه بهر او د جلال څخه ډکه وي."

رومیان ۱۴: ۱۷. "ځکه د خدای بادشاهي په خوراک څښاک نه ده بلکه په صداقت، په سوله او په خوشالۍ ده چې د روح القدس دطرفه وي."

په یاد ساتئ چې الهي برکتونه بېلابېلو اشخاصو ته په مختلفو طریقو سره نازلېږي. ځینې خلک کله چې د روح القدس څخه ډک شي کوم لوی احساس هغوی ته لاس نه ورکوي. نو پدې صورت کښې پرېشانه کېږئ مه او دا هڅه مه کوئ چې خپل احساسات راو پاروئ. بنجامین. آ. بوئر وایي: "د روح القدس هغه قدرت چې په تاسو کښې اوسیږي نشي کیدای چې په هغو احساساتو سره وسنجول شي چې په تاسو کښې پیدا کېږي. مګر دا قدرت کېدای شي د هغه ایمان له مخې چې په تاسو کې زیاتېږي وسنجول شي. د روح القدس قدرت ممکن په تاسو کښې په ډیر قوت سره عمل وکړي پرته له دې چې کوم ځانګړی احساس په تاسو کې راوپاروي. مګر هغه نر او یا ښځه چې له روح القدس څخه ډک وي هغه په دوامداره توګه له ایمان او محبت څخه شېرازه وي."

## خپله اراده روح القدس ته وسپارئ

تاسو روح القدس ته بلنه ورکړې ده ترڅو په تاسو کښې استوګنه وکړي او ستاسو د ژوند کنترول په خپلو لاسونو واخلي. د دې کار د ترسره کولو په څرنګوالي کښې د

روح القدس سره بحث مه کوئ. په هغې تجربې باندې چې بل څوک یې لري ټینګار ونه کړئ. هغه څه چې روح القدس یې ستاسو لپاره لري هغه په خلاصه غېږه ومنئ. ځینې خلک د خدای د قدرت په مقابل کښې له دې کبله ویره لري چې ګومان کوي دغه قدرت به دوی د خلکو په سترګو کښې د احمقانو په څیر معلوم کړي. که چېرې خلک په تاسو باندې نیوکې وکړي نو تاسو ته به څه ډول احساس پیدا شي؟ هغوی عیسی مسیح او پولوس ته هم د لیونیانو خطاب وکړ او د پنطیکاست د ورځې د روح څخه ډکو ایماندارانو ته یې د شرابو په نیشې د مستانو خطاب وکړ. له خپل سرۍ نه لاس واخلئ او پرېږدئ چې خدای په خپله طریقه عمل وکړي.

خپل جسم او تن روح القدس ته وسپارئ

روح القدس په هماغه اندازه چې ستاسو ذهن او احساس ډکوي، ستاسو جسم هم ډکوي. تاسو د روح القدس د قدرت د ترلاسه کولو لپاره دعا کړې ده، نو هغه به ممکن تاسو ته دا اجازه درکړي چې دغه قدرت احساس کړئ ترڅو تاسو په دې پوه شئ او باور وکړئ چې دغه قدرت واقعي دی.

خلک د روح القدس د قدرت په مقابل کښې د فیزیکي لحاظه په مختلفو طریقو سره غبرګون ښئ، بالکل لکه د مقدس کتاب په دوران کې. موسی سخت ورپېده، دانیال داسې پر مځکه راپرېوته چې تابه ویل مړ دی. داود د خوشالۍ څخه د خدای د لوظ د صندوق په وړاندې په نڅا شو. هغه ګوډ سړي

چې شفا حاصله کړه د خپل ځایه پورته شو او په خېزونو او ټوپونو يې پیل وکړ او د پنطیکاست په ورځ هغو یوسلو شلو تنو چې روح القدس د هغوی د ژبې کنترول په لاس کښې ونیوه، په نا اشنا ژبو يې خبرې کول پیل کړل.

مقدس کتاب په دې عقیده دی چې د انسان په اندامونو کې ژبه داسې یو اندام دی چې په سختۍ سره کنترول کېږي. مونږ د هغو خبرو په کولو کې له ځانه وارخطايي ښیو چې اصلاً د هغې حاجت نشته او د هغو خبرو په کولو کې د صبر او تحمل څخه کار اخلو چې د صبر کولو وړ نه ده. نو له همدې کبله خپلې ژبې روح القدس ته سپارو او د هغه څخه غواړو چې زمونږ سره مرسته وکړي ترڅو خپلې ژبې د خدای د جلال دپاره استعمال کړو. روح القدس زمونږ په کنترول سره او مونږ ته د یوې نوې ژبې په رابخښنلو سره چې د هغې په وسیله د خدای عبادت او هغه ته دعا کوو، مونږ ته راښوونه وي چې زمونږ دعاګانې منل شوي دي.

خلک په دې کار سره، روح القدس په بیلابیلو طریقو سره ترلاسه کوي. ځیني پرته له کومې ستونزې په ناڅاپي توګه خپله خوله خلاصوي او په روانۍ سره په پردیو ژبو خبرې کوي. هغوی یواځې خپل د آواز لرونکي اندامونه روح القدس ته سپاري.

ځیني نور ورو ورو د روح قدرت ته تسلیمېږي. هغوی په ټړټړي توګه او د ژبې په بندیدلو سره دا هڅه کوي په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي. ځیني نور لکه د ماشومانو په څیر په یوه یا دوو هغو کلیمو باندې په تکرار سره خبرې کوي کوم چې

روح القدس ورته ډالۍ کړې دي. مګر کله چې هغوی په پرله پسې توګه دعا کوي او ځانونه روح القدس ته سپاري نو روح القدس د هغوی د ژبو کنترول په لاس کښې اخلي او د هغو له لارې په روانۍ سره خبرې کوي. په همدې توګه ډیر خلک کله چې کوم الفاظ دخولې څخه راباسي او په مفهوم او معنی یې نه پوهیږي په قوي توګه د هغې تر اغېزې لاندې راځي. ځکه پوهیږي چې دا د روح القدس د قدرت په سبب دی. هغوی په پوره ایمانداری سره د روح دغه هدایت مني او دغه الفاظ په خپله ژبه راوړي. ددې کار په ترسره کولو سره روح القدس هغه ته دا قدرت ورکوي چې په بله ژبه خبرې وکړي. هغه ژبه چې ممکن ډېر الفاظ ونلري مګر یو مستقیم او مافوق الطبیعه قدرت لري.

اوس د رابرټ ډبلیو کامنیګز تجربو ته یوه کتنه کوو چې په هندوستان کښې یو پرزبیټري زیری رسوونکی ؤ: "د خدای عبادت مې کاوه او ویل مې: ((جلال دې وي پر تا باندې ای مالکه)) ... نا څاپه مې داسې احساس کړه چې خدای ماته وایي: ((ته زما ستاینه نه کوې او زما د جلال لپاره دعا نه کوې، بلکه خپل تعمید غواړې.))....زه غونډې ته ورغلم او په ناڅاپي توګه لکه څنګه چې راته ښوول شوې وه په دعا کولو مې پیل وکړ. ...((ای خدایه په دې غونډې کښې جلال پیدا کړه او پورته شه. په خپلو اولادونو کښې په هریو او په ما کښې.)) کله چې زما دغه خالصه او بې ریا دعا پای ته ورسېده د غم روح په سختۍ سره زه په خپل ځان کښې ډوب کړم... هغه روح چې زه پوه شوم

چې زما نه دی. ژړا زما باطني احساس بربنډ کړ. ځکه ما داسې نیت کړی دی چې له خدای سره لکه څنګه چې لاژم دی محبت نه کېږي.

له دې وروسته د غیرت روح، د خدای د جلال لپاره دغه سوزوونکی شوق، عجیبه خوښي، خوشالي او آزدي زما ټول بدن چاپېره کړ او داسې مې احساس کړه چې ګوندې د خدای د مینې په زړه کښې یم او د ټولو هغو شیانو څخه چې زه یې راګیر کړی وم آزاد یم. ددې خوشالۍ له امله په خندا شوم. په خپلو ټولو ویرو او شکونو پورې مې وخندل، د خپل تن او روح په ټولو دښمنانو مې وخندل او په یوې کامیابې خوشالۍ سره په خپلو هغو ټولو خواشینیو باندې وخندیدم چې پرما یې یرغل کړی ؤ. روح القدس همیشه ماته دغه تعلیم راکاوه چې خدای ته د هغه د قدوسیت، عدالت او ښه والي په خاطر عبادت وکړم. له دې وروسته زه خدای د خپل زړه د هغې لیوالتیا څخه خبر کړم چې د خپلې بادشاهۍ د برقرارولو لپاره یې لرله. خو زه یوازې په دې مطلب پوهېدم چې روح القدس څومره لیواله دی چې عیسی مسیح دې د پادشاهۍ تاج پر خپل سر کیږدي.

زما وروستنی درس د هغه غیرت سره اشنا کیدل ؤ چې خدای د خپلې ارادې د سرته رسولو لپاره په ځمکه کښې درلوده. لکه څنګه چې یې په آسمان کښې سرته رسولې وه. روح القدس ددې درس په زده کړه کښې شخصاً زما سره کار کاوه. هغه ماته وښودله چې زما د بدن ټول غړي او زما ټول جسم هغه ته د جلال ورکولو په خاطر پیدا شوی دی. د دې ټولې

مودې په ترڅ کښې چې روح القدس ماته تعلیم راکاوه هغه ویرووونکی او هیبتناک قدرت زما په وجود کښې ځای نیولی ؤ ... یو داسې قدرت چې لیدونکی ؤ، یو داسې قدرت چې نا محدوده ؤ مګر بیاهم زما د ارادې په مقابل کښې یې ځان محدود کړی ؤ او د خپل کار څخه یې لاس اخیسته او تر هغې پورې چې زما ارادې ورسره همکاري نه کوله، خپلې غوښتنې یې نه عملي کولې.

په دې وخت کښې روح القدس دغه مطلب ماته روښانه کړ چې هغه زما څخه دا طمع لري چې د مسیح د جلال لپاره خبرې وکړم. هغه زما څخه غوښتل چې خپل ژوند د مسیح یعنې د خدای د هغه وري د جلال لپاره وقف کړم کوم چې ددنیا ګناه لېرې کوي. .... د یو شفا ورکوونکي لپاره یې وقف کړم...د هغه چا لپاره یې وقف کړم چې په اور او روح باند تعمید ورکوي... د داسې یو بادشاه لپاره یې وقف کړم چې راتلونکی دی.

په دې وخت کښې روح القدس زه پوه کړم چې هغه غواړي زما ژبې ته قوت ورکړي او د هغې له لارې خبرې وکړي. کله مې چې خپله ژبه هغه ته وسپارله هغه زما له لارې په داسې ژبې خبرې کول شروع کړل چې زه ورباندې نه پوهیدم. ولې؟ نه پوهېږم! یواځینی شی چې زه ورباندې پوهېږم دا دی چې روح القدس زما د ژبې له لارې خدای ته د پټو رازونو په اړه خبرې وکړې. هغه څه چې په دې هکله بیان کیدای شي دادي چې روح القدس باید زما د ژبې په اختیار کښې نیولو سره او دخدای عبادت په هغه ژبه چې ما په خپل قدرت سره نشو

کولای هغه درک کړم، خپله هغه عبادتخانه يې له خپل وجود څخه ډکه کړې وه، مهر او لاک کړي.“

هغه خدای چې ديوې ونې دوه پاڼې يې سره ورته نه دي پيدا کړي په داسې طريقې سره چې په خپله يې غوره کوي تاسو د پاک روح څخه ډکوي. ځينې کسان عيسی مسيح ته د اووښتلو څخه پس سمدستي له روح القدس څخه ډک شوي دي. ځينې د کورنۍ دعا په ګروپونو کې، ځينې د روحاني سندرو په ترڅ کښې، د مقدس کتاب د مطالعې په دوران کښې او يا هم د خپل کار په جريان کې يو ناڅاپه د خدای محبت د هغو له زړونو څخه بهېدلی دی او خولې يې د خدای په ثنا او ستاينې باندې خلاصې شوې دي او له روح القدس څخه ډک شوي دي.

ښايي لکه څنګه چې لاژمه ده له روح القدس څخه به نه يئ ډک شوي. هغه عمل ترسره کړئ چې لومړنيو مسيحيانو به ترسره کول: ”هغه ته اجازه ورکړئ چې يوځل بيا تاسو ډک کړي داسې ډک کړي چې پاک روح له تاسو څخه په بهېدو شي. همېشه له روح څخه ډک اوسئ.“

د هغو کسانو په ليدلو سره چې د روح القدس څخه ډکيږي، په دې مطلب باندې پوهېږئ چې خدای نژادي توپير او فرق نه مني. خدای هغه څه چې نورو ته ئې کوي هغه تاسو ته هم کوي. دا مهمه نه ده چې ستاسو له توبې څخه څومره وخت تير شوی دی، چېرته ژوند کوئ او يا ستاسو شغل څه شی دی. هغه څه چې اهميت لري ستاسو د زړه احساس او د خدای په نسبت ستاسو تنده او لوږه او هغه ليوالتيا ده چې د هغه څخه د

اطاعت کولو په اړه يې لرئ. او په دې ايمان لرئ چې خدای په خپلو وعدو کښې صادق دی. خپل ځان هغه له وسپارئ ترڅو تاسو همدا اوس او هر چېرې چې ياست ډک کړي.

خدای دې تاسو ته د هغه څه په عملي کولو کې برکت درکړي کوم چې مو له دې کتاب څخه زده کړل. ستاسو لپاره زمونږ دعا دا ده:

کولو سيان ۱: ۹-۱۱. "مونږ هم د خدای څخه ستاسو د پاره ددې په دعا او خواست کولو کښې هميشه لګيا يو چې تاسو د دې ټولې روحاني پوهې او حکمت سره د خدای د مرضۍ د علم څخه ډک شئ، ددې د پاره چې ستاسو چال چلن د مالک لايق وي او د هغه په هرشان خوښ شئ، او په تاسو کښې د هرقسم نيک کار ميوه وشي، او د خدای په پېژندګلو کښې په لوئيدو شئ، د هغه د جلال د قدرت په مطابق د هرقسم قوت سره مضبوط شئ چې په خوشالۍ سره په هر شان سره صبر او زغم کولی شئ."

### هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۵- اوس دعا وکړئ. هغه وعدې مو چې له ياده مو زده کړي دي په دعا کښې ورته اشاره وکړئ. د دغو وعدو په اړه د خدای شکر په ځای کړئ. د هغه څخه د خپل روح د نازلولو په خاطر مننه وکړئ. روح القدس ته بلنه ورکړئ ترڅو په تاسو کښې استوګن شي او خپل ځان هغه له تسليم کړئ.

٦- اوس په تاسو کښې دا تیاری پیدا شوی دی چې د سوالونو د کتابچې دوهمې برخې ته ځواب ورکړئ. د څلورم لوست څخه تر شپږم لوست پورې یو وار بیا تکرار کړئ. بیا د سوالونو د کتابچې د لارښوونو په مطابق خپل جوابونه ولیکئ او خپل ښوونکي ته یې وسپارئ.

**خپل جوابونه ورسره مقایسه کړئ**

٤- ذهن، احساسات، اراده، جسم.

## مبارکي

تاسو دغه دوره هم پای ته ورسوله. هیله من یو چې ددې کتاب په لوستلو سره تاسو ته ډېر برکتونه حاصل شوي وي او ستاسو په روحاني وده کښې یې ژوره اغېزه کړې وي. په یاد ساتئ چې خپلې د سوالونو کتابچې ډکې کړئ او خپل ښوونکي ته یې وسپارئ. که چېرې تاسو غوښتي وي چې ددې سلسلې د کتابونو لوستلو ته دوام ورکړئ، نو له خپل ښوونکي څخه غوښتنه وکړئ چې تاسو ته د دې سلسلې یو نوی کتاب

درکړي. خدای دې تاسو ته د هر برکتونه درکړي. آمین.

## روح القدس ستاسو دوست او مرستندوی

آیا غواړئ وپوهیږئ چې:

- روح القدس څنګه ستاسو ملګری دی؟
- ولې ځینې کسان په ژبو باندې خبرې کوي؟
- څوک کولای شي له روح القدس څخه ډک شي؟

که چېرې ستاسو ځواب مثبت وي نو دغه کتاب ضرور ولولئ. ډیرو کسانو د دې کتاب دلوستلو څخه خوند اخیستی دی او روحاني ژوند یې شتمن شوی دی. هیله من یو چې ستاسو لپاره هم همداسې وي.

دغه کتاب په ډېره ساده او آسانه طریقې سره لیکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل یې آسانه دي. فقط همدومره کافي ده چې د هغه لارښوونې په عمل کښې پلي کړئ او خپل ځان وآزمایئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې یوه برخه ده چې د "مسیحي ژوند" په نامه یادېږي. د مسیحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه ولولئ.

# د عنوانونو فهرست

عنوان      د پاڼې شمېره


لومړی لوست: تاسو یو ملګری لرئ- یعنی روح القدس...... 5

دوهم لوست: روح القدس تاسوته ژوند دربخښي ............. 27

دریم لوست: روح القدس په دعا کې مرسته کوي ............. 47

څلورم لوست: روح القدس ستاسو لارښوونه کوي............. 67

پنځم لوست: روح القدس تاسوته قدرت درکوي .............. 87

شپږم لوست: روح القدس تاسو شیرازه کوي................. 105